# تر ایرو لاندې اور

مصطفی محمود

هدایت الله همیم

بسم الله الرحمن الرحیم

## 🕮 دا کتاب

د لیکوال مصطفی محمود (تر ایرو لاندې اور) اثر داسې یو ځانګړی کتاب دی چې د ځینو مهمو مسلو په اړه ژور غږېدلی، په تېره بیا ځینې هغه مسلې یې ژورې شاربلې چې د ده په زمانه کې وې او لا هم د افغانستان په څېر ټولنو کې شته، لکه اسلامي حکم یا واکمني، کمونیستي مارکسي فکر، سخت دریځي، منځلاري او له خدای (جل جلاله) سره د معاملې څرنګوالی. په دې کتاب کې د دین او سیاست په تړاو د یولړ مسلو د ظاهر او له حروفو سره د لوبو پرځای د هغوی پر ژورو اړخونو تم شوی. په کتاب کې یې د تاریخ په اوږدو کې د هغو کسانو ډېرې بېلګې وړاندې کړې دي، چې دیني، سیاسي او ټولنیز شعارونه یې پورته کول، خو له خپلې لارې یې خپل پلویان اړولي او خبرې یې له کړنو سره په بشپړه توګه په ټکر کې وې.

# د لیکوال لنډه پېژندنه

(زوکړه: دسمبر ۲۷،  ۱۹۲۱ _ مړینه :اکتوبر ۳۱، ۲۰۰۹).

مصطفی محمود په مصر او عربي نړۍ کې یو وتلی فیلسوف، طبیب او لیکوال دی. اصلي نوم یې مصطفی کمال محمود حسین آل محفوظ دی، چې د نسب شجره یې تر علي زین العابدین پورې رسېږي. پلار یې شل شوی و او له ځو کلونو کړاو وروسته په ۱۹۳۹ کال ومړ. مصطفی محمود طب لوستی او په ۱۹۵۳ کال یې په صدري ناروغیو کې تخصص اخیستی و، خو په ۱۹۶۰ کال یې لیکوالۍ او څېړنو ته ځان وزګار کړ. په ۱۹۶۱ کال یې واده وکړ، خو په ۱۹۷۳ کال له خپلې ښځې په طلاق جلا شو. د (أمل) او (أدهم) په نومونو خدای (جل جلاله) دوه اولاده ورکړل. په ۱۹۸۳ کال یې له زینب حمدي سره دویم واده وکړ، خو دغه واده هم ډېر دوام ونه کړ او په ۱۹۸۷ کال په طلاق له یو بل سره جلا شول.

مصطفی محمود په علمي، دیني، فلسفي،  ټولنیزې او سیاسي برخو کې ۸۹ کتابونه لیکلي، حکایتونه، ډرامې او یونلیکونه یې هم کښلي، چې لوستونکی یې په ساده تورو او ژورو معناګانو لا ډېرو لوستلو ته هڅوي.

دوکتور مصطفی محمود په مصري تلوېزیون کې د (علم او ایمان) په نوم د تلوېزیون مشهور پروګرام ۴۰۰ برخې وړاندې کړې. په ۱۹۷۹ کال یې په قاهره کې (د مصطفی محمود جومات) ډېره کښېنوده، ترڅنګ یې د ده په نوم درې روغتونونه جوړ کړل، چې د مصر د بې وزله خلکو په درملو اوڅار  "مشهور" شوي.

## تاریخي فکر یې

د تېرې پېړۍ په لومړیو کې یو شمېر فکري شخصیتونو د (لا دینۍ) مساله راپورته کړه، چې هم مهاله ورسره د اسمعیل ادهم (ولې زه بې دینه یم؟) په نوم مقاله خپره شوه، طه حسین (په جاهلي شعر کې) کتاب چاپ کړ، نجیب محفوظ یو له هغو اوائلو و چې دیني څور او روحي تنده یې تجربه کړې وه. په دې وخت کې مصطفی محمود ډېر ځان نه څرګنداوه، خو له روانو حالاتو یې ځان لیرې نه و ساتلی.

مصطفی محمود د مصري صوفیانو د یوه زیارت او مشهور جومات (المحط) په ګاونډ‌ۍ (میت الکربلاء) سیمه کې اوسېدلی، چې دغه ګاونډیتوب یې پر افکارو او تګلوري ښکاره اغېز درلود. دی په درس کې ممتاز و، خو د عربي ژبې د یوه ښوونکي له خوا تر وهل کېدو وروسته یې غوسه وپارېده او تیک درې کاله یې سبق پرېښود او

بیا بلې مدرسې ته ولاړ. ده له پلاره په میراثي کور کې د صابون او د حشراتو د وژونکو درملو یوه کوچنۍ فابریکه جوړه کړه، خو کله چې طب پوهنځي ته ولاړ، په (مشرحجي) ځکه ډېر مشهور شو چې کری ورځ به د مړو له جسدونو سره ولاړ و، او د ژوند او مرگ او له مرگ وروسته حالت په اړه به یې پوښتنې کولې.

## تورونه او اعتراف

پر مصطفی تور و چې ګنې پخپلو ځینو افکارو او سیاسي نظریو کې د خپلو نظریو ضد دی، خو ده نه منله او ټینگار یې دا و چې دا تور نه ګڼل کېږي، بلکې پر هغه څه اعتراف دی، چې دی د ژوند په ځینو ورځو کې پر ناسم لوري روان و، چې دا پخپله د ده شجاعت او پر خپل ځان د نقد کولو قدرت ښکارندویي کوي.

په تېره شپېتمه لسیزه کې د مادیت او وجودیت پدیده ډېره دود وه، مصطفی محمود هم له دې پدیدې لیرې نه و، خو په اړه یې ویل: ''دې کار ټیک دېرش کاله د کتابونو لوستلو،  له خپل نفس سره زرګونه شپې په خلوت او سوچ کې تېرولو، په هره بڼه له خدای (جل جلاله) نه انسان ته له اغزنو لارو د تېرېدو لپاره د فکر اړولو او د ژوند او مرگ معما ته د رسېدو لپاره اړتیا وه چې بالاخره مې په پوره یقین سره نن ولیکل''.

مصطفی محمود دېرش کاله له شک،  نفیې او اثبات کړېدلی، دېرش کاله د خدای (جل جلاله) په لټه کې و! هغه مهال یې د بودایي، براهمي او زردشتي دینونو په اړه کتابونه لوستل او د هندوانو د ''وحدة الوجود'' د تصوف پیروان و، چې د دوی په اند خالق پخپله مخلوق هم دی او ربّ پخپله کائنات دی، چې همدا په ټولو مخلوقاتو کې باطني طاقت ګڼل کېږي. خو مصطفی محمود د شک په پړاو کې بې دینه نه و او په مطلق ډول د الله (جل جلاله) له وجود نه منکر هم نه و؛  خو د هغه له ادراکه عاجز و او په سمه توګه د خدای (جل جلاله) له پېژندلو ناتوانه و.

دغې تجربې نوموړی پر یوه ځلانده دیني مفکر بدل کړ، خو تر ده مخکې دغه تجربه ابو عثمان جاحظ او ابو حامد الغزالي هم تېره کړې وه، له روحي ځورونو سره مخامخ شو، چې په اصل کې هر څېړونکی مفکر له دې پړاوه تېر شوی دی، غزالي ٦ میاشتې د شک په حالت کې و، خو مصطفی محمود په شک کې دېرش کلونه تېر کړل!

دېرش کاله یې ښکلي او ژور کتابونه ولیکل (**له بې دینه ملګري سره مرکه**)، (**له شک نه یقین ته زما یون**)، (**تورات**)، (**د مرگ معما**)، او داسې نور ژورې معناوې لرونکي کتابونه.

## ستونزې

مصطفی محمود ډېر ځلې له فکري ستونزو او ځورونو سره مخامخ شوی، لومړی د خپل (**الله او انسان**) په نوم کتاب له کبله محاکمې ته وړاندې شو او ولسمشر عبدالناصر پخپله د هغه د محاکمې غوښتنه وکړه؛ ځکه چې د ازهر په غوښتنه یې دا ''کفري'' موضوع ګڼلې وه! .. خو محکمې یوازې د کتاب په بندیز لګولو پرېکړه وکړه، بیا ولسمشر سادات مصطفی محمود ته وویل چې کتاب یې ډېر خوښ شو، همدا وو چې د دویم ځلي چاپ پرېکړه یې وکړه.!

مصطفی محمود د سادات نژدې ملګری و او د هېڅا په مړینه دومره ډېر نه وو غمجن شوی لکه د سادات په وژلو چې شوی و ''مسلمانانو ته د هغه سرې وژنه څرنګه روا ده چې ډېر ظلمونه یې دفع کړي، بریا یې ترلاسه کړې او له اسلامي ډلو سره یې مرسته کړې، خو بیا هم دوی پخپلو لاسونو وواژه.. ''. کله چې سادات نوموړی ته د وزارت وړاندیز وکړ، هغه ته یې خپل عذر وړاندې کړ او ورته وویل: ''زه د یوه کوچني بنسټ (کورنۍ) په اداره کولو کې پاتې راغلم.. زه طلاق شوی یم.. نو پوره وزارت به څرنګه اداره کړای شم..!!؟؟ ''

## مړینه

مصطفی محمود د ۲۰۰۹ کال د اکتوبر میاشتې پر ۳۱ مه (چې د ۱۴۳۰ هـ د ذوالقعدې میاشتې له ۱۲ سره سمون خوري)، د شنبې پر ګهیځ اووه نیمې بجې له دې نړۍ د ۸۸ کلونو په عمر سترګې پټې کړې.

* * * *

# د ژباړن لنډه پېژندنه

هدایت الله همیم (فیضکخېل) د ۱۳۵۵ کال د مرغومې پر ۲۸ مه، چې د ۱۹۷۷ کال د جنورۍ له ۱۸ سره سمون خوري، د میدان وردګو ولایت جغتو ولسوالۍ د کلاندې "ستر کلي" د ارواښاد حاجي عبدالقیوم آخوندزاده په کاله کې زیږېدلی دی. نوموړي لومړنۍ زدکړې په افغانستان کې کړې. په ۱۹۹٦ کال یې د ننګرهار پوهنتون د عربي ژبې او ادبیاتو پوهنځی لوستی. د ۲۰۰۴ کال پای کې یې د اسلام اباد نړیوال اسلامي پوهنتون IIUI نه په عربي ژبه او ادبیاتو کې د ماسترۍ دوره هم په بریالیتوب سره پای ته ورسوله.

## کاري مخینه

نوموړي د زدکړې ترڅنګ اسلام اباد کې د "سعودي عربستان سرې میاشتې" یا SRCS په یوه ښوونځي کې هم له ۲۰۰۲ تر ۲۰۰۴ کال پورې تدریس کړی. وروسته یې د افغانستان د مخابراتو وزارت د "اکسا ACSA" د ځاییتابه پروژې په Afghanistan Localization Program_ ALP یا "د افغانستان ځاییتابه پروګرام" کې د کمپیوټري پروګرامونو د ژباړن او ژبپوه په توګه د ۲۰۰۵ کال د اپرېل له ۱۲ د ۲۰۰٦ کال د جون تر ۱۰ پورې کار کړی. دغه پروژه د مایکروسافټ شرکت له خوا مخابراتو وزارت ته ورکړل شوې وه، چې د کمپیوټر وینډوز، افېس او ځینې نور اړین پروګرامونه پښتو ته واړوي.

ښاغلی همیم له ۲۰۰٦ کال نه تر ۲۰۰۷ پورې په United General Services Center _ UGSC کې د مرستیال اداري په توګه کار کړی. نوموړی په یاد شرکت کې ونډه وال هم و. له ۲۰۰۷ کال تر ۲۰۰۸ پورې یې له فرانسوي مشاورتي Altai Consulting شرکت سره کار کړی.

نوموړی له ۲۰۰۸ کال راپدېخوا تر اوسه (د کتاب تر چاپولو ۲۰۲۰ پورې) له بي بي سي BBC نړیوال سرویس سره کابل کې د پښتو وېبپاڼې د مشر پروډیوسر په توګه کار کوي، چې د کار ډېره برخه یې د بي بي سي پښتو وېبپاڼې www.BBCPashto.com، فېسبوک، ټوېټر او انسټاګرام ته بېلابېل خبري، تحلیلي، انځوریز، وېډیویي/غږیز رپوټونه، مرکې او نور مطالب چمتو کول دي. نوموړی په انلاین ژورنالېزم کې پاموړ تجربه لري او د بي بي سي نړیوال سروېس په بېلابېلو کورسونو کې یې برخه اخیستې ده. هدایت الله همیم پر خپلې مورنۍ پښتو ژبې سربېره، په دري/فارسي عربي، انګلیسي او اردو ژبو واکمن دی.

## د ژباړې تجربه او خطاطي

همیم فیضکخېل له ۲۰۰۲ کال راهیسې ژباړه پیل کړې، چې د کورنیو تلوېزیونونو لپاره یې تر ۱۰۰ ډېر مستند فلمونه له عربي او انګلیسي ژبو پښتو او دري ته ژباړلي دي. په ALP کې یې د کمپیوټر ګڼ سافټویرونه پښتو کړي. د ګڼو پښتو وېبپاڼو، خپرنیو، مجلو او ورځپاڼو لپاره یې هم سلګونه مطالب ژباړلي. په ۲۰۰۳ او ۲۰۰۴ کلونو یې پوهنتون کې د خطاطۍ سیالۍ کې ګډون کړی، چې په لومړۍ مسابقه کې یې دویم مقام او دویمه هغه کې یې لومړی مقام ګټلی دی.

# علمي او ادبي اثار

همیم فیضکخېل له تېرو څو کلونو راهیسې په بېلابېلو علمي او ادبي موضوعاتو کې يولړ ژباړې کړې او ځینې کتابونه یې خوږې پښتو ژبې ته ژباړلي دي.

۱ ـ (***خاینه ټلواله: د اسرائیلو، ایران او امریکا پټې معامل***). دا کتاب د ایراني الاصله امریکایي لیکوال تریتا پارسي اثر دی، چې په څه باندې ۳۰۰ مخونو کې چاپ شوی.

۲ ـ (***افغان جګړه کې د امریکایي استخباراتو رول***). دا کتاب د لبناني مؤرخ، څېړونکي او د لبنان د لیکوالو او عربي ټولنې او د عرب تاریخپوهانو د ټولنې غړي ډاکټر صالح زهر الدین اثر دی.

۳ ـ **د ماشومانو ستونزې** (*د ماشومانو د لسو لویو ستونزو تشخیص او علاج*) په نوم کتاب یې په ۱۳۹۳ کال کې چاپ شوی.

۴ ـ د پاسنۍ کتاب په تعقیب یې د (***لوستونکی ماشوم***) په نوم بل کتاب هم ژباړلی. په کتاب کې ګڼې داسې ګټورې لارې شته، چې په مټ یې ماشومان لوستلو او مطالعې ته هڅول کېدای شي.

۵- **لوستونکی ماشوم** (لوست ته د ماشومانو د هڅولو عملي مېتودونه) د دوکتور عبدالکریم بکار اثر دی، چې ۲۰۱۹ کال کې کابل کې سروش کتابپلورنځي چاپ کړ.

٦- **پټ رهبر** – دا د وائل محمد نیل کتاب دی چې تر ډېره یې موضوعات پر ارواپوهنه راڅرخي، له لویو ستونزو د وتلو او هدف ته د رسېدو بېلابېلې لارې او ژوندي مثالونه پکې راخیستل شوي.

۷ ـ (***د مرګ څپې: [له افغانستانه تر عراقه***] په دې ژباړل شوي کتاب کې د امریکا د بهرنیو چارو وزارت د ۲۰۰۱ کال هغه پټ اسناد په ډاګه شوي، چې څرنګه یې پر افغانستان د یرغل هوډ وکړ، کومو هېوادونو ورسره لومړۍ همکاري وکړه، د افغانستان ګاونډیو هېوادونو په دغه یرغل کې څه ډول رول لوبولی او داسې نورې نا ویل شوې خبرې..

۸ – **د ماشومانو لپاره لنډې کیسې** – په دې کتاب کې د ماشومانو لپاره د مشهور لیکوال کامل کیلاني د ۱۰۰ لنډو کیسو ٦ غوره کیسې دي.

۹ ـ **د سمندر په ژورو کې** ـ (ناول) د فرانسوي مشهور ناول لیکونکي ژول وِرَن ناول دی، چې د نړۍ ګڼو ژبو ته ژباړل شوی. دغه ناول په انګلیسي کې 20000 Leagues under the Sea په نوم دی، چې په ۱۸٦۹ کال کې چاپ شو. ددغه ناول پېښې تر ډېره په سمندر کې د یوې سوداګریزې بېړۍ د ډوبېدو پر کیسې راڅرخي، چې پکې ټوټه ـ ټوټه شوې وه، خو هېڅوک یې د ډوبېدو په لامل پوی نه شول.

۱۰ ـ **تر ایرو لاندې اور** ـ (همدا اثر) د ارواښاد مصري لیکوال مصطفی محمود دغه اثر داسې یو ځانګړی کتاب دی چې د ځینو مهمو مسائلو په اړه په ژورو ټکو غږېدلی، په تېره بیا ځینې هغه مسائل یې ژور شاربلي چې دده په زمانه کې وو، لکه اسلامي حکم، کمونیستي مارکسي فکر، سخت دریځي، منځلاري او له خدای (جل جلاله) سره د معاملې څرنګوالی. په دې کتاب کې د دین او سیاست په تړاو د یولړ مسائلو د ظاهر او له حروفو سره د لوبو پرځای د هغوی پر ژورو اړخونو تم شوی.

# چاود ته نژدې شوی بم!

د پلار جېم جونز ډلګۍ یوه سخت دریځه پروټستانټ ډله ده، چې په ۱۹۶۳ کال یې کلیفورنیا کې بنسټ ایښودل شوی، د غړو شمېر یې ډېرشو زرو ته رسېږي .. پلار جونز د کانګرېس د ځینو غړو، د سان فرانسیسکو د والي او د ولسمشر کارټر د مېرمنې ځینې تزکیې ترلاسه کړې، داسې تزکیې چې د جویانا واکمن یې جېمز ته د ۲۷ زره جربه ځمکې ورکولو ته وهڅاوه چې ''مېنه'' پکې جوړه کړي، خپل ګوماني خوب پرې رښتیا کړي او یوه داسې ټولنه جوړه کړي چې په مینې، همکارۍ او وروروڵۍ راځرخي او طبقاتي سیستم پکې نابود وي.. داسې مېنه چې پای یې پخپله د بنسټګر پلار جونز په ګډون د څه باندې نهه سوه ماشومانو، زلمیانو، سړو او ښځو په وژنې او ځانوژنې تمام شو، جونز پخپله د ''ډله ییز انتحار'' مشري کوله، ته وا عبادت او یا کوم مذهبي مراسم دي، د کانګرېس د غړو، د سان فرانسیسکو د والي او د ولسمشر د مېرمنې له خوا ورکړل شوې تزکیې ددې څرګندویې وې چې ګني موږ د یوه ځلانده او اغېزناک سړي او یوه دعوتګر په مخ کې ولاړ یو چې د اوسپنکښ (مقناطیس) په څېر خلک ورجذبوي..دغه سړي پخپل توان سره زرګونه ځوانان، د دوی کورنۍ او ماشومان خپل مخ ته ودرول او په ړانده ملاتړ او ناشولته دکتاتورۍ یې ان د مرګ تر کندې پورې ورسول. توا همدا یوازېنی رب دی چې هېڅ دویمه خبره نه مني.

د مذهبي سخت دریځۍ پدیده نن نژدې پر ټوله نړۍ کې خپره ده، چې یوه بېلګه یې زموږ د تکفیر او هجرت ډله ده... مشر یې د خپلو سلګونو ملاتړو پښې ان د مرګ او جرم تر پولې پورې وښکولې.

دا ټول د ځوانانو د مذهبي تندې پر حالت دلالت کوي، یا دا چې په یوه بېدیا کې د الله (جل جلاله) لوري ته د لومړي جار وهونکي تر شا ضیاع او مرګ ته د چمتووالي حالت ښیي.

لس کاله په لندن کې اوسېدلی یم، پر ټولو واټونو یې د هندي مذهبي او صوفي مشر (مهاریشي ماهش یوګي) د ویناوو لوی پوسټرونه لګېدلي وو، ځوانان به دغو ویناوو ته په دومره شوق او جوش ورتلل لکه د فوټبال د سیالیو لوبغالو ته چې ورځي، وېښتان او نوکان به یې اوږده پرېښي وو. په غاړو کې به یې تسبیح اچولې وې او د (مون) په نوم نبي او اروپا کې د هغه د کړنو په اړه خبرېدو.

د یوه بل تورپوستي نبي (الیجا محمد) نوم مو هم واورېد چې په امریکا کې تر ټولو پیاوړې اسلامي ډله پرې راټوله شوې وه.

هرځل به مو چې د خدای (جل جلاله) لوري ته د دعوتګر خبرې اورېدې، زرګونه ځوانان به پرې ورټول وو.

د ژوند د یوازېني هدف په توګه ټکنالوژي پاتې راغله، مادي تمدن هم د جومات او کلیسا پرځای د یوه بدیل محراب په ورانډې کولو کې ناکام شو، مارکسیزم څکه ماتې وخوړه چې په تطبیقي ازموینه کې یې عورت ښکاره او نیمګړتیاوې بربنډې شوې او هغه رڼا یې هم پر تیارې واوښته، چې ځوانان یې وربانډې جذبول، دودیز او تقلیدګر راهبان او شیخان هم د نویو نسلونو په خطاب کې عاجز پاتې شول او د هر هغه مخ پټي شیطان په مشرۍ هرې سخت دریځې مشرۍ ته د وره دواړې درې پرانیستل شوې چې د خبرو کولو هنر ولري او دا سحري چل ول یې کټ مټ له هغو زده کړی چې ''اهل الله'' وربانډې غږېږي، معمولاً دغه شیطان په اغېز کې د اوسپنکښ قوت لري.

په دې حالت کې موږ ټول او هغه چې تر شا یې روان دي، د هلاکت لوري ته کشول کېږو.

له شک پرته دا ټول په یوه عجیبه زمانه کې د ''مسیخ دجال'' د ښکاره کېدو پیلامه ده، داسې زمانه چې د مادي بربنډتوب او حل او روحي ویښتابه او د خدای (جل جلاله) لوري ته د شوق ترمنځ تړاو پیدا کوي او په هر ځوان کې مادي او روحي مخونه سره یوځای کوي، خو ځینې وخت پخپل اند او ځینې وخت په خپل باطل عقل سره له یو بل سره په ټکر کې وي ـ د هغې ښځې ملاقات مې هېڅکه نه هېرېږي چې په بشپړ فساد او ناشولته ژوند کې وه، خو په مخ کې به یې چې د الله (جل جلاله)  نوم واخیستل شو یا به یې د قرآن توري واورېدل، د یوه ماشوم په څېر به یې ژړل. د نایټ کلپ د جاز موسیقۍ په غورېږ او نشه شویو په شورماشور کې به دې ژړل او دا ترې هېر وو چې د خلکو په ګڼه ګوڼه او منځ کې ده .. کوم ډول خلک!

همدا د ضد او نقیضو څیزونو په چاودېدونکې زمانه کې دوه ګونی شخصیت دی.

ښاغلي جېم جونز مو پخپلو سترګو لیده چې د طهارت او تدین لوري ته یې دعوت کاوه، خو ترڅنګ یې په یوه وخت له نشې او زنکه بازۍ ډک غیر نورمال ژوند درلود، په یوه لاس کې به یې انجیل و په بل لاس یې وژنې کولې.

ځینې وخت به مې داسې وانګېرله چې ګني تر پښو لاندې مو د زمانې د مذهبي بم فلیته ده، فلیتې ته اور ورته شوی او دا بم چاودېدو ته نژدې شوی دی... موږ داسې پیلامو ته اشده اړتیا لرو چې دغه مذهبي حماس سم لوري ته سوق کړي او د رڼا لوری وروښیي، چې په دې سره په اصلاح سره بدلون راشي نه د نویو جرمونو د څپو له لارې، تل د ''اهل الله'' او ''اهل الشیطان'' ترمنځ تار ډېر لوړ وي، په تېره بیا کله چې اهل الشیطان دیني جامه واغوندي انجیلونه او قرآنونه خپل شعار وګرځوي او د خدای (جل جلاله)  لوري، فضیلت او تقوا ته دعوت پیل کړي، تل توپیر په تېز غږ او تعصب ته په کړېدو کې وي.

په ټولو دینونو کې تعصب کوونکي په حقیقت کې یوازې د خپلو نفسونو پر (دین) ټینګ وي.. دوی د خپلو ځانونو او شخصي انګېرنو بندګان دي نه دا چې د واحد خدای (جل جلاله) عبادت وکړي او خاکسرۍ ته خلک وبولي.

په پیل کې نبي علیه السلام خپل لاس د یهودو لاس کې کېښود او له مشرکینو سره یې سوله وکړه له کفارو سره یې ژمنه وکړه او تر هغو یې د هېچا پر وړاندې وسلې ته لاس نه کړ چې ټولو یې د جګړې هوډ کړی نه و، کله یې چې ټول پرضد راپورته شول نو د خپل ځان د دفاع کولو امر یې وکړ..  مسیح پخپل لومړي وصیت کې وایي له خپلو دښمنانو سره مینه وکړئ..  موږ وایو ﴿ادْفَعْ بِالّتِي هِيَ أحْسَنُ السَّيِّئَةَ﴾. (ته د بدۍ مخنیوی په هغه ښېګڼه وکړه چې هغه ډېره ښه وي). د فصلت سورت ۳۴ آیت. او یوحنا په حق کې ځان ټینګ ساتلی و په خلکو کې یې مینه ډېره وه او پر حیوان زړه سواندی و، ان له غره، ونې، د سمندر له رېګ او د ځمکې له خاورې سره یې مینه لرله.

همدا د رښتیني مذهبي سړي ځانګړنه ده.. له ملګري وړاندې له دښمن سره مینه او هغه ته لارښوونه او له تاوتریخوالي کرکه یوازې په ډېر تنګ وخت کې وي.

الله تعالی محمد علیه الصلاة ته وایي: ﴿فَمَنْ شاءَ فَلیُؤمِنْ ومَنْ شاءَ فَلیَكْفُرْ﴾، ﴿أفأنتَ تُكْرِهُ النّاسَ حتّى يَكُونُوا مُؤْمِنِينَ﴾، ﴿فَذَكِّرْ إنمَّا أنْتَ مُذَكِّرٌ لَسْتَ عَلَيهِمْ بِمُسَيْطِرٍ﴾، ﴿وَمَا أنتَ عَلَيهِم بِجَبَّارٍ﴾، ﴿فاصْبِرْ علَى مَا يَقُولُونَ وَاهْجُرْهُمْ هَجْراً جَمِيلاً﴾. ﴿قُلْ كُلٌّ يَعمَلُ علَى شاكِلَتِه﴾، ﴿لايَضُرُّكُمْ مَنْ ضَلَّ إذَا اهْتَدَيْتُمْ﴾، ﴿لَكُمْ دِينُكُمْ وَلِيَ دِينِ﴾.

له دښمن سره له مخالفت او پراخې سینې سره د وینا د ازادۍ درناوی او ښښنه او له ژوند او ښېګڼې سره مینه او د ودانولو لپاره دعوت او له ویجاړۍ کرکه کول، د اهل الله نښې دي، په همدغو نښو له مخ پټو شیطانانو توپیر مومي، ولو که دغه شیطانان هرڅه ووایي او هر ډول دعوت وکړي. د خوږو خبرو پر ځای د زړونو خبرو ته غوږ شئ، ځکه چې اور په فلیته کې لګېږي او نړۍ د تناقض حد ته رسېدلې ده.

# خدايي خلک او شيطاني خلک!

هره ورځ هلته او دلته د اړ و دوړ او ځان ښودنې خبرونه اورو، خو هغه څه چې پام ورجلبوي ديني شعارونه دي.. ځينې وخت يې تر شا د شوروي اموال هم وي.

دوی مؤسسو او سينماګانو ته اور اچوي، د دين په نوم ماشومان بوډاګان او ښځې وژني.. دا يو ترهوونکی کار دی.. سينما يو بې پرې علمي وسيله ده، د پيټرولو، بخار، تخم او برېښنا په شان وسيلې چې هم په خير او هم په شر کې ګټه ترې اخيستل کېدای شي، سينمايي فيلم امکان لري حق، ښېګنې او ښکلا ته دعوتګر وګرځي، لکه څرنګه چې ګډوډۍ ته هم لمن وهلی شي، سينما او د سينما چلوونکي ګناه نه لري، بلکې ټول وبال د مکرجنو عقلونو او هغو مذهبونو پر غاړه دی چې دغه وسيلې د ويجاړۍ په موخه کاروي، د مذهبي افکارو د ويجاړۍ او ماديت د خپرولو په موخه لومړی شوروي په ګرده نړۍ کې له سينما نه ګټه واخيسته.

يو ساده  عقل هم له خپل ملګري شوروي نه دغه ډول ديني غيرت ربښتيا نه شي ګڼلی..  دا د فلسطيني قضيې په اړه د شوروي په جار وهلو ويناوو کې غيرت ته ورته دی، حال دا چې روسيه لومړی هېواد و چې اسرائيل يې په رسميت وپېژندل او بيا لومړی هغه و چې په ٦٧ جګړه کې يې پر اسرائيلو د بريد پرمهال د جمال عبدالناصر لاس ونيو او بيا يې په ٧٣ جګړه کې وسلې پرې بندې کړې، اوس يې له سوريې نه وسلې راوګرځولې خو په عين وخت کې يې د فلسطين او فلسطينيانو په غوړونو کې ضد او نقيض نارې ووهلې.

دا نو په دين د سوداګرۍ او د جعلکارۍ پديدې يوه برخه ده.

دا د پلار جېمز جونز له هغو شعارونو سره چندان توپير نه لري چې په وسيله يې خپل پلويان د دين په نوم ټولوژنې ته په لوی لاس ورټېل وهل، يا د تکفير او هجرت له هغې ډلې سره ورته والی لري چې خپل ملاترې يې د اسلام په نوم جرمونو ته سوق کړل.. هر مشر هڅه کوي خپل پلويان په ''ړنده مينه'' پر ځان پسې کش کړي. هټلر پخپله مبارزه، نازي فاشيزم او د شوروي ټانکونو کتاب کې وايي کله چې روسي پوځ چکسلواکيا ته ننوت بغاوت او ديکتاتورۍ يې ټول هېواد په سر واخيست. ټوله هڅه دا وه چې جعلي مقدس کتابونه دود کړي د اصلي خدايانو پرځای بديل هغه رامخې ته کړي او په ړنده پلوۍ او ړانده ايمان او دعوت سره په ديني لېوالتيا خپل بيرغ اوچت کړي، خو دوی ټول پر يوه تګلوري روان وو او د ځوانانو له هماغې کمزورې نقطې يې ګټه پورته کړه. د ديني تشې او تندې نقطه، خو ظاهراً يې هدف حق او ښېګڼه وه.

دوی ټولو هڅه کوله چې د پيوستون ټکی وړاندې کړي.

د نمونوي مخ پر وړاندې تلونکو ځوانانو او هغو موخو ترمنځ د پیوستون ټکی چې هره ډله یې د خپلو خواهشاتو مطابق شاوخوا چورلېږي او د ځان په حق ګڼلو ادعا کوي..

خو لکه څرنګه چې برجسون وایي ـ او موږ په قرآن کې وایو او هر دین وایي ـ حق یوازې له الله تعالی سره دی او خدای (جل جلاله) د اخلاقو او کمال یوازېنۍ سرچینه ده. هغه نفسي تشه او ویجاړې چې اوسمهال د نړۍ ځوانان پکې اوسېږي، لامل یې د پیوستون د ټکي نشتوالی دی.

د پیوستون همدغه نیمګړې ټکي د ځوانانو د انتحاري چاودنو لامل شوي. همدا ده چې دوی د هر سخت دریځي جرم او تېري ترشا دي، په نشې د روږدېدو لامل یې همدا دی، د تېښتې او ګوښه والي سبب یې هم دا دی.

دغه ځوانان د تل لپاره هدف او موخه نه لري.

د هټلر، ستالین، مارکس او له هغوی مخکې د خوارجو قرامطه او د تکفیر او هجرت ډلې او پادري جونز ډلو په ځېر هجومي لوی مشران له خپلو پلویانو سره د بریا تر پولې ورسېدل؛ ځکه چې دوی خپلو اتباعو ته د پیوستون جعلي ټکی وړاندې کړ او د جومات او کلیسا پرځای یې بدیل محراب ورته مخې ته کړ، د سالم ایمان پرځای یې یو مریض ایمان وړاندې کړ او داسې هدف یې ورته وټاکه چې د ځوانانو قوت پرې وزبېښي او د هغوی زرین وخت پرې ضایع کړي.

د نړۍ په هر ګوټ کې ددغه چاود پر مخنیوي کې هېڅ ډول مسکن درمل ګټه نه لري او یا دا چې د ناروغۍ د یوې برخې درملنه وشي، بلکې پر موږ ټولو فرض ده چې لاملونه او جرړې یې پیدا کړو او په بنسټیز ډول یې اصلاح ته متې رابډوهو . . دا کار تر هغو پورې ناشونی دی چې د دوی د نیمګړتیا پوره کولو لپاره بشپړه نسخه وړاندې نه کړو، داسې د پیوستون ریښتینی ټکی وروښیو چې د خپل نفس تشه پرې ډکه کړي او د ځان باطن پرې رڼا کړي.. دا کار په ریښتیني دین او پوره ایمان ترسره کېدای شي داسې چې له خپل رب سره یې اړیکه اوج ته ورسېږي.

یوازې په دې سره یې نفس هوسا کېږي او د ارامۍ ساه اخلي، وجدان یې اطمینان ترلاسه کوي او فطرت یې خپل انډول ستنولی شي. ناروغ، ګوښه شوی او عدواني زړه یې پر یوه مینه ناک، ټولنیز او د خیر او ورکړې په چارو کې پر یوه هڅاند زړه اوړي.

په ګرده نړۍ کې د دیني احیاء لپاره اړتیا ده، داسې چې د حق جنډه پر ټولو موجوده لارورکو بیرغونو لوړه او رپانده شي، همدا یوه نړیواله اړتیا ځکه ده چې په نړیواله کچه نیمګړتیا او نړیوال مرض او جانبي عوارض هرځای لیدل کېږي. دغه هدف ته د رسېدو لپاره باید دین داسې وړاندې شي لکه څرنګه چې پخپلو پاکو اصولو کې رامنځ ته شوی او په یوه داسې نړیواله عصري ژبه وړاندې شي چې هرځای هر وګړي پرې پوی شي، نه دا چې د تعصب په بنده شوې ژبه وړاندې شي.

دین باید پخپل جوهر او روح کې وړاندې شي، نه په ظاهري بڼه.. دین لکه د توحید او اخلاقو په شان یو مسوولیت او د لومړیتوبونو په سر کې دی، دین د مینې او نړیوالې ویښتابه، علم او د خیر او ښکلا د سپېڅلتیا لپاره وړاندې شي.

هېڅ کوم بل شي اسلام ته دومره زیان نه دی اړولی لکه په دین کې چې د ظاهري بڼې او شکل په اړه اختلافاتو او انقساماتو چې زیان ورته رسولی، داسې اختلافونه چې د موضوع اصلي هدف له ټولو هېر شوی.

- ـ ایا پړوني کې دې یوازې د ښځې مخ او وېښتان ونپېچل شي؟!
- ـ ایا د ږیرې کلول او د مسواک پرېښودل کفر دی؟!
- ـ ایا په اوداسه کې د لاسونو مینځل تر څنګلو پورې دي او که څنګل پکې شامله ده؟!
- ـ ایا په لوټه استنجاء کول غوره دي او که په اوبو؟!
- ـ ایا د انځورونو اخیستل او پر دېوالونو راځوړوندول حرام دي؟
- ـ ایا د سړو لپاره د نیلون اغوستل د ورېښمو د اغوستلو د حرمت حکم لري؟

لسګونه او لسګونه نور داسې فرعي مسائل شته چې یو کس بل پرې کافر ګڼي، خو د اسلام اصل پکې د بې ګټې بحثونو په لړ کې ورک وي.

بایده ده چې دغه اختلافات پرېښودل شي او اسلام په یوه شامل او عصري مفهوم وړاندې شي او معاصر انساني عقل ته لاره وشي.

که موږ نبوي سنت یوازې په ږیره وپېژنو، نو راځپوتین د خپل عصر تر ټولو لوی فاسق و او تر ټولو لویه ږیره یې لرله او مارکس بیا د ږیرې په اوږدوالي کې پر ټولو مخکې و.

بلکې زما په اند سنت د رسول پیروی ته وایي، د هغه د اخلاقو، ایمان، عقیدې او پاک نفس پیروي ده، نه دا چې یوازې د مسواک وهلو، رنجو پورې کولو، جامو اغوستلو او یا خوړلو کې یې اطاعت وشي.

رسول الله علیه الصلاة والسلام په کچر سپور شوی نو ولې موږ هم الوتکې او اورګاډي نه پرېږدو او نبوي سنت نه پرځای کوو او کچرو ته مراجعه نه کوو..

نبي صلی الله علیه وسلم به په ګوتو خوراک کاوه... بیت الخلاء ته به د خپل حاجت رفع کولو لپاره تله، ایا دا ټولې چارې باید عملي شي لکه څرنګه چې ځینې ''غُلاة'' یې غوښتنه کوي؟

په اصل کې دا ظاهري مسائل دي چې پر یوه عصر پورې تړلي، کله چې عصر بدل شو دوی هم ورسره بدلېږي او پر کچر سپرېدل د مسواک له وهلو سره یوشان ګرځي.. عصر په دوو حالتونو کې موږ ته غوره بدیل وړاندې کړی، موږ الوتکه او اورګاډی لرو د غاښونو مینځلو بورس او کرېم لرو. دین په اصل کې ثابتې چارې دي نه بدلېدونکې.

سنت د رسول اطاعت دی چې پرې ځانګړی دی او پر خپلو همعصرو یې برتري موندلې ده.

نبوي سنت پر نبوي رتبې پورې اړوند کړه وړه دي، نه د عادي بشریت پر صفت پورې تړلي سلوک.

کله چې له بعثت (اسلام) مخکې مشرکان د حجر اسود پورته کولو په اړه بې اتفاقه شول، محمد (صلی الله علیه وسلم) پر لاره راښکاره شو ... ټولو نارې کړې چې ''دغه امین دغه محمد (صلی الله علیه وسلم) دی'' دوی یې نصیحت ومانه... خو داسې یې ونه ویل چې دا یو ږیرور سړی دی... دا یې هم ونه ویل چې دی مسواک وهي... بلکې ویل یې چې دغه محمد (صلی الله علیه وسلم) امانتدار دی. ځکه چې مسواک او ږیره هغه وخت عادي وو، ابوجهل هم ږیره لرله، ابو لهب هم مسواک واهه، خو محمد (صلی الله علیه وسلم) پر ټولو په امانتدارۍ ځانګړتیا لرله .. همدا د دوی د اجماع ټکی وګرځېد.. همدغه د مسالې روح او ''لُباب'' دی، د همدغه امتیاز په مټ باید موږ د رسول او د هغه د کړو وړو تقلید وکړو .. چې زما په اند همدا د سنتو معنا ده، خو نورې چارې نه وروسته کېږي او نه هم مخکې کېږي .. نبي صلی الله علیه وسلم مسلمانانو ته وصیت کړی چې ږیرې پرېږدي؛ ځکه چې له یهودو سره یې مشابهت ونه شي، ځکه هغوی به ږیرې کلولې.. خو اوس څه خېل وضعیت دی چې یهودو ږیرې پرېښې.

په دې سره دین ته داسې دعوت پکار دی چې د دین ښکلا، ځلا او اصلیت پکې څرګند شي او نړۍ ته یې یو نړیوال پیغام ورسوو، نه دا چې موږ خپله بې اتفاقه یو او پخپلو کې د کوچنیو مسلو پر سر په ډلو ووېشل شو او یو بل سره وخورو، الله تعالی پخپل کتاب کې فرمایلي: ﴿**إِنَّ اللهَ لا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِه و يَغْفِرُ ما دونَ ذلكَ لِمَنْ يَشاۤءُ**﴾. *(الله هېڅکله دا نه بخښي چې ورسره شریک جوړ شي او پرته له شک څخه چې د چا لپاره وغواړي نور ګناهونه یې بخښي)*. د النساء سورت ۴۸ آیت. په دې سره الله پاک راته وایي چې دین یو اصلي موضوع ده چې اصل پکې توحید دی او نورې فرعې چارې شاید وبښلې شي.

په یوه داسې نړۍ کې چې سخت جاهلیت ته د بې دینۍ لړۍ روانه ده او کافر د مادیاتو تابع دی، موږ باید له دوی سره ''دیني ابجد'' پیل کړو نه دا چې له ظاهر او فرعي موضوعاتو یې شروع کړو.

د یوه وګړي په وجدان کې د واحد الله (جل جلاله) د معنا حاضرېدل تر هرڅه لومړۍ اړینه قضیه ګڼل کېږي، نړۍ د مادي غفلت لورې ته میلان کړی او ځان یې کاملاً پرې بوخت کړی او الله (جل جلاله) له انساني وجدان غائب ګڼل شوی او بشریت په لنډمهالو خوندونو کې ډوب ښکاري.

تلوېزیون او سینما، ډرامه او رادیو، کتاب او مجله اوس هغه خطرناکې وسیلې ګرځېدلې چې موږ د لا غفلت او غیبوبیت لورې ته سوق کوي، سکسي سندرې او له جرمونو ډک فیلمونه او هځوونکي اعلانونه او د لوبو اتلولیو او ازادو پهلوانیو موږ پسې وراخیستي یو.. پایله یې دا ده چې د انسانیت جوهر د غوایه له حیوانیت سره یوشان شوی، خلک وینو چې له نورو خلکو او ډلو سره لکه د جاسوسانو او غوایو په څېر د یوې مړې ډوډۍ، زرو، ځمکې ښځې او شرابو پر سر ښکر په ښکر دي. مطلوب دعوت هغه دی چې خلک راویښ کړي، داسې دعوت چې د

عصر په ژبه خبرې وکړي او له هر ډول تعصب او سخت دریځۍ پرته هر چا ته مخاطب شي او هڅه یې دا وي چې د هېوادوالو په زړه کې هغه تشه پیدا کړي چې د پیوستون په ټکي یې له خپل اصل سره نښلولی شي او په ارامۍ یې له دښمنۍ پرته خپل اصل ته ستون کړي، له ډېرو جزییاتو او فرعي مسائلو ځان په څنګ تېر کړي.

دین لکه څرنګه چې دی او الله تعالی هماغسې راستولی، له علم او هنر سره مینه لري او د پرمختګ او ودې لپاره انسانان وربولي ټکنالوژۍ او ګټور کشف ته یې هڅوي.

له دې ځایه د دغو ټولو انفجاري پدیدو لپاره ریښتینی اصلاح پیلېدای شي، که سر له اوسه دغه اصلاح پیل نه شي، نو وخت به مو له لاسه وتلی وي او په ګرده نړۍ او هر ګوټ کې به له نابره پېښو او ناورین سره مخامخ شو، لکه څرنګه مو چې وویل اور په فلیته کې دی او دیني بم چاودېدو ته نژدې شوی، دوی سینما ته اور ورته کوي ماشومان او بوډاګان د دین په نوم وژني او ددغه اور د ژوندي ساتلو لپاره مشکوک مالونه لګول کېږي .. هرڅوک دا ادعا لري چې د خدای (جل جلاله) په لار کې مبارزه وکړي ان مارکسي هم چې پر خدای (جل جلاله) بروسه نه لري یو جعلي شعار یې پورته کړی، بېره یې پرېښې ده، وږمې ترې پورته کېږي او تسبیح یې په لاس کې دي .. ډېر ژر به د درغلۍ په بازار کې هرڅه ګډوډ شي او اهل الله به له اهل الشیطان څخه نه شي مشخصېدلی.

په سپیده داغ کې اخطارونه راښکاره شوي موږ باید د پېښو له واقع کېدو مخکې د ځان غم وخورو.

# اسلامي حکم.. کله . او څرنګه؟

ما ته به يې ويل:

هرکله مې چې په مخ کې قرآن تلاوت کېږي، ژاړم... خپل ګناهونه را په زړه شي ژاړم بيا لږ وروسته ځان ډېر کمزوری وينم خو بېرته ګناه ته مخه کړم.

دې به ويل:

''ډېر کله د ګهيځ پر اذان لالهانده راويښه شم له خپلې بسترې نه بربنډه منډې کړم او بدن مې رپېږي په داسې حال کې د ستنې د څوخېدو او لړم د چيچلو احساس کوم چې هرځای د هغه سړي په غېږ کې راباندې د ښکلولو باران وي، حمام ته منډې کړم او څو ساعته دېش ته ناسته يم او داسې انګېرم چې ګنې زما هرڅه ککړ شوي دي.''

دا هغه هنرمن دی چې الله تعالی خپل څنګ ته يو وخت وروغوښت او دا هغه هنرمنده ده چې خپل ژوند يې له هېڅ حساب او کتاب پرته په لهو او لعب کې تېر کړی.

ديني احساس ان د مړ ژواندي حالت په اوج کې هم انسان نه پرېږدي.. دا په دې هېواد کې ـ چې له اوو زرو کلونو راهيسې يې الله پېژندلی او عبادتځايونه يې پکې ودان کړي دي ـ تل همدا حال دی. يکې يو ربښتينی کافر هم پکې نه شې موندلی.. بلکې اهل يې په غفلت کې ډوب دی د خپلو خواهشاتو او دنيا بندګان دي.

زموږ هغه زمانه چې نن پکې اوسېږو د غفلت زمانه ده.

بوختياوو او غمونو، ګټو او تمو او خواهشاتو د خلکو ذهنونه بوخت ساتلي، خو په زړه او هوډ کې يې دا تنده، درد او خپګان پاتې دي چې ګنې يو مهم شی يې له لاسه ورکړی.

د پاڼې په لار کې د زرو د فقدان درد او د لومړۍ يوازېنۍ مينې د ضايع کېدو خپګان د خپل وطن د ضايع کېدو خپګان او د خپل شريف نسب د ورکېدو خپګان د خپل اصليت او حقيقت ورکېدو خپګان.. ځکه چې اصل يې له ډېرې شريفې سرچينې راغلی.. د الله تعالی له لوري.
الله (جل جلاله) يې وطن، رب او اصل دی.

الله (جل جلاله) یې لومړۍ یوازېنۍ او رښتینې مینه ده، چې ګډې وډې نړۍ ته په کوزېدو سره له دغې مینې محروم شو، له هرې خوا نه یې فتنو کې پېښې وښویېدې او تمو ژورې کندې ته ورټېل واهه او خپلو خواهشاتو پړمخې وغورځاوه چې د حیوان په څېر یې ساه بنده شوه.

هره ورځ له هغو کسانو سره مخامخېږم چې تل رانه پوښتي:

ایا په دې لعنتي زمانه کې چې له سترګېبجنو او دلکشونو ډکه ده ـ له موږ اوسېدونکو سره به خدای (جل جلاله) محاسبه وکړي، لکه څرنګه چې د قریشو په زمانه کې د لومړني بېدیایي کوچیاني ژوند له اهل سره محاسبه کوي، په هغه زمانه کې نه سینما وه نه تلوېزیون او نه هم رادیو یا د (پلې بوای) مجلې، نه هم کسیټ وه نه هم بربنډوالی.. ایا هغو لومړنیو پاک نفسو او پرهېزګاره مسلمانانو به څه کول که چېرې یې د مارلین مونرو او الستړیپتیز نڅاګرو او د شامپو بربنډو اعلانونو هره ورځ له کوچني سکرین نه خوب خونو ته لاره موندلې وای.. ایا دوی به پر هماغې پاکۍ او دیني سپېڅلتیا پاتې وای لکه څرنګه یې چې موږ کیسې اورېدلې دي؟ ایا نه وینې چې له وخت سره سم احکام سپکېدل غواړي.

ایا ګومان کوې په دې روانو حالاتو کې دا امکان لري چې یو اسلامي حکم دې د عمر بن خطاب او عمر بن عبدالعزیز د حکم په څېر وي..

ایا امکان لري چې دغه حکم دې د ټول عصر له ماتولو پرته او یا اوسپنیزې ترهې بغیر له تاوتریخوالي کار واخلي ترڅو په نفسونو کې اخښل شوي عادتونه نابود کړي او د تنفس په څېر وګرځي.

که یو عصري اسلامي واکمن راشي او په تدریج، سړه سینه او زړه سوي سره چارې مخته بوځي.. نو ایا سخت دریځي دعوتګر به ترې راضي شي.. ایا په فرصت طلبۍ او بدعت رامنځ ته کولو به یې تورن نه کړي.. بیا به ټول ډلې ډلې نه شي او هر یو بل بل تورنوي او یوه ډله به بله وژني.. ایران یې یوه ژوندۍ بېلګه ده.

ټولې پوښتنې ژورې او پر خپل ځای دي او ګومان نه کوم چې تدین دې د پوره بدلون په زمانه کې له پخواني تفصیل سره قدیمي شکل خپل کړي.

که څوک غواړي د ابو بکر په څېر ژوند وکړي باید پر ځان پورې ورونه وتړي یا په یوه جومات کې کښېني او له دنیا سره خپله بشپړه مخه ښه وکړي.. او له دې ګوښې نه د جګړې تر پیلېدو پورې راونه وځي او بیا په منډو منډو خپل خلوت ته بېرته ستون شي.

اسلام په دې نمونوي بڼه شاید یوازې د هغو افرادو لپاره وي چې خپل ځانونه ورته وقف کړي _ په هره معنا کامل صوفیان _ خو ټوله ټولنه په دغه پخواني چوکاټ نه شي داخلېدی، مګر له زوره کار ورسره واخیستل شي.

داسې زور چې ډېر ناوړه منفي غبرګونونه به ولري او خپلې ټولې ښېګنې به یې ضایع شي.

شاید ته په دې مسلکي بڼه د نذر او وقف له لارې اسلامي احکام عملي کړې، خو په دې توګه پر ټولې ټولنې یې عمل کول پرته له دې ممکن نه دي چې د زور له لارې خونړۍ تاوتریخوالي ته لاس وانه چوې او خلک له خپل عادت نه په زور راونه ګرځوې.

دین د کرکې او جبر له لارې زړونو کې ځای نه نیسي، او ښېګڼې زور نه زیږوي.

شاید نن دعوتګران دا چیغه پورته کړي چې:

خپل ځان اصلاح کړه.

هر څوک دې خپل ځان اصلاح کړي او د خپلو کړو وړو د سمولو هڅه دې وکړي او خپل داخلي دولت دې پرځان واکمن کړي او د خپلو خواهشاتو او شهواتو تابعدار دې شي.. که بریالی شو نو خپله کورنۍ او ګاونډ دې اصلاح کړي که په دې کې هم کامیاب شو، نو د حق غږ دې شي او نورو ته دې سرلاری او یوه بېلګه وګرځي همدا د یوه اسلامي حکم پر لوري یو پراخ ممکن ګام اخیستل دي.

خو په پاڅون او د زور له لارې د اصلاح هڅه هغه خوبونه دي چې پر انسان مسلطېږي او د خپلو خواهشاتو تابع ګرځي.

د دین په لار کې د خلکو د زړونو د پاکوالي لپاره د وسلې راخیستل له ردولو او کرکې پرته بله ثمره نه لري او کله چې محمد علیه الصلاة والسلام او صحابه کرامو د مدینې ټولنه جوړه کړه، له نبي سره د الله (جل جلاله) ملاتړ، د جبریل او بې شمېره پرښتو مرسته ورسره وه، ژوند ابتدایي بڼه لرله او نبي کریم داسې سړی نه و چې له خپله ځانه یې څه ویلي وای، بلکې هر کار او خبره یې د وحې له لارې وه.. په موږ کې څوک شته چې دا کار وکړي.

د رسالت په زمانه کې د پېریانو خبرو ته غوږ شئ:

**﴿وَ أَنَّا لَمَسْنَّا السَّمَاَءَ فَوَجَدْنَاهَا مُلِئَتْ حَرَساً شَدِيْداً وَ شُهُبَاً. وَ أَنَّا كُنَّا نَقْعُدُ مِنْهَا مَقَاعِدَ لِلسَّمْعِ فَمَنْ يَسْتَمِعَ الآنَ يَجِدْ لَهُ شِهَاباً رَّصَداً﴾**. *(او بې شکه که چې موږ اسمان ته ورنژدې شو نو هغه مو له ټینګو څوکیدارانو او له ویشتونکو ستورو ډک وموند او موږ د اسمان په ځینو ځایونو کې د خبرو د اورېدو لپاره کښېنستو، خو اوس که څوک غوږ ږدي نو ویشتونکي ستوري به یې په څارځیونو کې ومومي)*. (۸_۹ الجن)

دغو پېریانو داسې شاهدي ورکوله چې الله تعالی په اسمان کې په شهاب ثاقب ټینګ امنیت نیولی او شیطانانو ته یې څارلي چې د دوی او د اورېدو ترمنځ مخه ونیسي خپل نبي او د هغه رسالت وساتي.

نن په دې عصر کې موږ له هغې زمانې څومره لیرې یو، الله تعالی پر موږ شیطانان راخوشي کړي او پېریان یې له پړو ایله کړي او یاغیان له کثافاتو راوتلي په زړونو او عقلونو ننوتي دي.

اسلامي حکم د الله (جل جلاله) د هغه د پرښتو او معجزو له ملاتړ پرته نه شي راتلی، یا یې داسې یو پاک سړی راوستلی شي چې د نبوت پر ګام روان وي د نبي تر شا د هغه هر پل تعقیب کړي.

د زړونو بدلون يو الهي عمل دی نه انساني، او الله (جل جلاله) خپل بشپړ رسول ته وايي ﴿**وَ أَلَّفَ بَينَهُم، لَوْ أَنفَقْتَ مَا فِي الأَرْضِ جَمِيعَاً مَّا أَلَّفْتَ بَيْنَ قُلُوبِهِمْ وَلَكِنَّ اللهَ أَلَّفَ بَيْنَهُمْ**﴾. *(او د مؤمنانو زړونه يې يو له بل سره لګول که تا د ځمکې پر مخ ټول شيان خرڅ کړي وای، د دوی په زړونو کې به دې خپل منځي مينه نه شوه اچولای، خو الله* (جل جلاله) *د دوی زړونه سره ولګول)* ـ د الانفال سورت ٦٣ آيت.

يووالی او د زړونو نژدېوالی د زور له لارې ناممکن دی .. بلکې نبي هم له الهي رضا پرته نه شوای کولی او اسلامي حکم ته رسېدل له پړاوونو پرته ناممکن دي، لومړی پړاو د ادراک، دعوت او د قدوې خپرولو دی بيا پرهېزګاران او پاک نفسه کسان راڅرګندېږي بيا د نبوت پر قدم ولاړ پاک سړی راڅرګندېږي.. خلک په مينه پرې راغونډېږي او بيا د الله (جل جلاله) په امر يې ټوله ټولنه له جبر او قتل پرته پخپله خوښه تر شا حرکت کوي.

په دې وخت کې ... مخکې نه... د اسلامي حکم په اړه خبره ممکنه ده.

خو له پس پسکي تشنج سره ملګری دعوت چې له الهي چمتووالي پرته وايي اسلامي حکم به سبا يا بل سبا راشي .. د هغو انقلابونو په شان حکم لري چې راشي پر څوکيو ناست کسان بدل کړي ګټيالي بدل کړي خو د يوه زړه هم بدل نه شي کړای او نه د يوه تن ضمير رڼا کړای شي.

هغه هوښيار ته چې اصلاح غواړي، دا کافي ده چې لومړی د خپل ځان په اصلاح کولو پيل وکړي.. خپل دولت پاک کړي او پخپلو کړو وړو کې الهي قانون تطبيق کړي.. همدا لومړی باران دی او بيا د څاڅکو له يوځای کېدو وروسته باران راځي.

خو کله چې په شعارونو مصنوعي باران جوړ کړو پرته له دې چې څاڅکي ولري.. او څاڅکي هم يوازې په خبرو کې وي او مخکې له مخکې يې د رطوبت او برودت لپاره هېڅ چمتووالی نه وي او بيا داسې وانګيرو چې يو څاڅکی زړی زرغونولی شي، داسې مثال لري لکه له لقاح پرته چې سړی د ميندوارۍ تمه ولري.
موږ په يوه مادي جاهلي زمانه کې اوسېږو چې په ټولو بنسټونو، تنظيماتو او عادتونو سره له روحانيت او روحي منهج ليرې ده، امکان نشته چې دغه زمانه دې له دعوت پرته په څلرويشت ساعتونو کې پر يوه اسلامي زمانه بدله شي.

که موږ ټول د ځان په اصلاح خپل وخت ولګوو، خپل عيبونه بربنډ کړو نو په اصل کې مو د خپل عمر قدر کړی او له وخت مخکې مو غوره ثمره ترلاسه کړې ده.

الله تعالی په قدسي حديث کې عيسی عليه السلام ته وايي: ((اې عيسی خپل ځان ته نصيحت وکړه کله دې چې ځان ته نصيحت وکړ نورو ته يې وکړه او که داسې نه وي، نو له ما حيا وکړه)).

اې الله (جل جلاله)، زه له تا نه د حياء او شرم احساس کوم.

له خلکو سره شخړه مه کوئ له ځان سره هم شخړه مه کوئ، دا یو ټینګ دین دی، له زړه سوي کار واخلئ له قوت مخکې لومړی له ممکن نه ګټه واخلئ.

هغه فاضل فقهاء چې هره ورځ فتواګانې ورکوي، سینما حرامه ده، موسیقي حرامه ده، تلویزیون حرام دی، سندرې حرامې دي، بانکونه حرام دي ـ زموږ ټول ژوند صریح کفر ګرځوي، که له موږ سره ایمان وي، موږ ته له دې پرته چې غرونو ته وخېژو، بل څه نه دي راپاتې. . همدا د تکفیر او هجرت د ځوانانو عقیده ده، همدا د هغه مسیحي پادري جېم جونز اخلاقي قاعده ده، چې له خپلو پلویانو سره د ځنګل څنډو ته کډه شو او هلته یې مېنه جوړه کړه او په پای کې یې د خپل ځان او خپلو پلویانو د مرګ او قتل حکم وکړ، ټولو ـ ماشومانو، زلمیانو او بوډاګانو زهر وڅښل او د انجیل په دې آیت د عمل په پلمه مړه شول چې: ((چا چې زما لپاره ځان هلاک [مړ] کړ، زه یې ومومندم)).

دا له خدای (جل جلاله) سره داسې مینه ده چې پایله یې له هغه څخه په نهیلۍ او ځانوژنې تمامېږي، چې همدا ناشولته کفر دی.

دا د مبالغې، سختګیرۍ، تعصب او سخت دریځۍ وروستۍ برید او آفت دی، چې یو شی د هغه ضد ګرځوي.

که اهل الحل والعقد خپلو هغو تنخواوو ته وګوري چې له دولته یې اخلي، نو وبه ویني چې په مال کې یې د سیاحت، د شرابو د ګمرکو د مالیو او د جواري د کلپونو حرامې پیسې هم ورګډې شوې دي، په دغو کسانو کې پخپله فاضل شیوخ او د ازهر علماء، د اوقافو وزیر او هغه مفتیان هم دي، چې د حل او حرمت فتواوې ورکوي.. دوی له هغه نظام څخه څرنګه ځانونه مبرا ګڼي چې همدوی یې د بنسټ ستنې او عناصر دي.

زمانه له دین څخه په کلي ډول لیرې شوې ده.

نړۍ پر سینو د قرآن او انجیل له ځوړندو شعارونو سره سره په مادي علمي جاهلیت کې ژوند کوي.. په ګرده نړۍ کې فساد دی، خو د دې معنا دا نه ده چې ګني اصلاح دې په بشپړ رد، وینې، ترهې، زور او جبر سره رامنځ ته شي، دغه کړه وړه پایلې سرچپه ګرځوي.

پخوا په قرآن کې د شرابو د تحریم احکام په حرمت او سبب بیانولو او تدریجي ډول راغلي او په یوځل حرام نه دي ګرځول شوي.

الله تعالی په دغو تشریحي تدریجي حکم سره دا رانښیي چې د فساد اصلاح باید د زیان او سبب بیانولو له لارې په تدریجي ډول ترسره شي.. او دا کار له څو پړاوونو پرته په بل ډول ناممکن دی. یو پړاو بیا پسې بل پړاو.

زه وینم چې اوس د ځان د اصلاح کولو مرحله ممکنه ده، بیا خپله کورنۍ اصلاح کړه او بیا خپل ګاونډی او بیا پخپله ټولنه کې د دعوت او حق ژبه شه.

هر چا چې په دې زمانه کې دغه پړاوونه وګالل، د خپل عصر نبي ګڼل کېږي او د راتلونکو پاک زړو لپاره په اصل کې يو ټينګ بنسټ بږدي او د امت او نړۍ په کچه د اسلام د احياء کولو لپاره پخپل روح سره د ده ملاتړ وکړي.. هر وخت چې وغواړي دا کار کولی شي..

له ځينو اورو چې وايي نن رانژدې شوې ده او ديني پاڅون راتلونکی دی خو په موږ وخت تېر شوی. ځوک دا مني چې د آيت الله خميني په څېر يو اتيا کلن تبعيد شوی او شړل شوی سړی به پر يوه امپراتور او د هغه پر يوه بشپړ او لوی پوځ په يوازې ځان بريالی کېږي. که دا د دغه سړي د صداقت نښه نه وي نو د هغو ميليونونو کسانو د زړونو د شوق نښه خو ده چې د ديني پاڅون نارې يې وهلې.

هو، موږ له شک پرته دغې زمانې ته نژدې شوي يو، په دې کې شک نشته چې د خلکو په زړونو کې پاکۍ ته شوق ريښتينی دی. خو لاهم د شوق او د بدلون په موخه د مطلوب عزم ترمنځ واټن لوی دی.

له نبي وروسته هېڅ داسې بشپړ سړی نه دی راغلی او نه به راشي چې د هغه پل تعقيب کړي. داسې سړی چې د خپل رب له خوا تاييد شوی وي او تر شا يې ميليونونه کسان په مينه، خپله خوښه او تسليمۍ روان وي.

خو د داسې کس د راتلو لپاره موږ د لارې د هوارولو توان لرو، داسې چې په زړونو کې د الله (جل جلاله) لوري ته په هماغو وسيلو ددعوت د شوق تخم وکرو او د انسانانو عقلونه او زړونه رڼا کړو، چې سخت دريځو حرام ګرځولي دي.. په سينما، ډرامې، تلوېزيون، سندرو، کتاب او مجلې.

هنر د يوه داسې ښکر په څېر دی، چې ويجاړوونکي او مفسدين دواړه پکې پوکی کوي او خپلو اندونو ته پکې دعوت کوي.. ولې يې موږ د دې پرځای چې د ويجاړولو او تحريم هڅه وکړو، وانخلو او خپلې عقيدې ته پکې دعوت ونه کړو. د هنر تحريمولو دعوت د ټول عصر د تحريم لپاره بلنه ده، چې دا کار ناممکن دی.

پراخه سينه ولرئ، په زړه سوي خپل مراد ته رسېږئ. په شفقت او تدريج خپل هدف ته رسېږئ.

اوسني بانکونه د سود په نظام چلېږي، خو موږ يې په يوځل نه شو له منځه وړلی او نه هم له لوېديځې اقتصادي بنې نه په سم لاسي فرمان ځانونه خلاصولی شو؛ ځکه چې موږ د نړۍ يوه برخه يو او ټوله نړۍ د سود په اقتصاد معاملې کوي.. موږ بايد د داسې اسلامي بانکونو بنسټ کېږدو چې د نوي اقتصاد رامنځ ته کولو په برخه کې له نورو بانکونو سره سيالي وکړي.. بيا دغه اقتصاد ته ورو ورو وده ورکړو.. دا کار بايد ګام په ګام وشي.

په تلوېزيون کې هم دا کار پکار دی، په يوځل ټول تلوېزيون تلاوت، ترانو، او وعظ ته ځانګړی کول ممکن نه دي، بلکې بديل اسلامي هنرونه او داسې پروګرامونه بايد رامنځ ته شي چې له عصر سره سر وخوري او هدف پکې نغښتی وي، دا کار هم په څلرويشتو ساعتونو کې کېدونکی نه دی، بلکې داسې نويو شخصيتونو ته اړتيا ده چې وليکي او کشف کړي.

بیا، څرنګه په لسو پونډو د غله لاس غوڅ کړو او د لس میلیون پونډو هغه غل پرېږدو چې له عام مال نه یې په رشوت کې اخیستي، یا یې په دې دلیل په بډو وهلي چې ګنې د لاس غوڅول شروط پرې نه عملي کېږي.. ایا غوره نه ده چې لومړی د قوانینو په تعدیل پیل وکړو او په نوي فقهي نظر د شریعت روح ته پام وکړو داسې نوي احکام استنباط کړو چې هرې نوې قضیې ته پکې مناسب حل موجود وي.

دا کار چیغو ته نه، بلکې اجتهاد ته اړتیا لري. سوچ پرې وکړئ قومه!.

# نړیوال کمونیزم.. ترکله؟

د ۱۹۷۸ کال د ختامي فصل پر پېښو پرده داسې راکوزه شوه، لکه معماګانې..

کمونيستي ويتنام له کمونيستي کمبوديا سره جنګېږي، کمونيستي چين او امريکا سفارتونه او ښکلول تبادله کوي، د روسيې او چين ترمنځ دښمني اوج ته رسېږي او ترمنځ يې جګړه د نړۍ د نقشې د طول او عرض په کچه روانه ده.

په چين کې نوی منشور او شعارونه چيغې وهي... له ايډيالوژي (سفسطه/ فلسفې او تصوف) نه کار غوره دی.. ګټه له پورونو غوره ده.

کمونيستي شوروي خپل پوستکی ويوست او کولمې يې راښکاره شوې او په وروستيو هڅو کې يې له خپل ځان سره مخالفت وکړ چې نوې ځمکې لاندې کړي.. په ايران کې چيغې وهي. زنده باد اسلام .. په اروپا کې نارې وهي ... يا د Proleteriat (کارګرې طبقې) ديکتاتوري دې ړنګه شي! په سايبريا کې چيغې وهي .. د امريکايي پانګونې او تجربې هرکلی کوو.

مسلکي ملګري وايي: چين له خپلې عقيدې سره خيانت وکړ.. تاريخ وايي: او روسيې له خپلې عقيدې سره خيانت وکړ.. نو ملګرو له عقيدې سره څوک ژمن پاتې شول..

د عدن او کيوبا کمونيست... دواړه د شوروي د اوږو بار شول او په ايتيوپيا او سوماليا کې د نوي استعمار په خدمت کې د اجيرو پوځيانو په څېر کار کوي.

نو د چا عقيده پاتې شوه ..

روسيه خام مواد له رومانيا نه د کوميکون په بيو اخلي.. بيا يې جوړوي او وسلې او جنګي توکي پرې پلوري او بيه د پانګوالۍ د نرخونو پرې ږدي، فوري اداينې ته لوړ پولي واحد ټاکي، يا په قسط کې لوړې ربوي ګټې اخلي او د ولسونو د اقتصاد وينې زبېښي.. په مصر کې د اداينې حکايت او په سوريه کې ادابنه هره ورځ د ورځپاڼو د سر ټکي وي.

آيا له دې نړۍ نه شرم کېږه کړې.. مارکسيزم ته له درد پرته نور څه نه دي ورپاتې؟؟

والله دا خو نړۍ ته د بابا نويل له خوا له مېوو د جوړ شوي کيک وړاندې کول دي، د خپلو ملګرو له وينو جوړه قرباني خدای (جل جلاله) ته وړاندې کوي.. دوی خوبوړي کمونيست ته داسې څه پرې نه ښودل چې له کبله يې جګړه وکړي حيثيت يې هم ورپرې نه ښود، اخلاق يې هم ترې واخيستل او که سبا ته د امريکا او روسيې ترمنځ جګړه شي، نو د عقيدې جګړه به نه وي، بلکې د دوو بحري آسونو ترمنځ جګړه به وي .. يوازې د قوت او واک پر سر جګړه چې لاسبرۍ پکې پر ماتې خوړونکي هېڅ فضيلت نه لري.

د ډیناسورانو ترمنځ جګړه یو او بل به سره وخوري او یوازې لکۍ به یې پاتې شي. د تاریخ خوښځت د کارل مارکس د تصور خلاف راغی او د هغه ټولې وړاندوینې یې غلطې ثابتې کړې.. نن جګړې پخپله د کمونیستانو ترمنځ دي شخړو او دښمنیو ټوټه ټوټه کړل هر کین اړخی پر کین اړخ راپاځي او چپی ځپي، هغه وښونه نه ختمېدونکي دي چې د خلکو د خواهشاتو او تمو په شمېر رامنځ ته شوي.. څوک چې پر کرسۍ پاتې کېږي د زور، ترهې او جبر له لارې به مخته ځي، چې نن یې هغه شمولي رسنۍ بولي چې د واکمنانو له خواهشاتو سره سم د هېوادوالو ماغزه مینځي.. حق د رادیوګانو په غوربږ  او د شعارونو په چیغو کې ضایع شوی.

بیا ناڅاپي دغه پېښې د معماګانو په شان راځي چې هرڅه افشا کړي او هر شی بربنډ کړي، په موږ د بې عقیدې خلکو او بې آیډیالوژۍ کبرجنو دولتونو، بې افکارو تمو او بې نظره پټو کینو په مخ کې یو.

مارکسیزم له یوشمېر هغو پلمو پرته نور څه نه دي، چې نوي انقلابیان یې په مټ واک ته د رسېدو په موخه د بدلون راوستلو ادعا کوي.. بیا د واک پر ګدۍ تر کښېناستو وروسته هېڅ بدلون نه راولي ... یوه طبقه ووځي او بله یې ځای ونیسي، یو ظلم پایته ورسېږي او لا ډېر ظلم پیل شي... دا ځل ظلم ټولو ته شامل دی چې په تیاره شپه پر میلیونونو ګونډې ووهي او هېڅوک د غږ پورته کېدو وس نه لري.

په دې نظام کې واکمن ډیناسور دی.. داسې خدای (جل جلاله) دی چې تېروتنه نه کوي.. توري یې دین دی سیرت یې نمونه.. کله چې ډیناسوران پر نړیوال دسترخوان راغونډ شي ګورو چې هر یو یې خپله عقیده غورځوي او مخاطب له مذهبي مانیکیر لاندې راڅرګندېږي او وینو چې آیډیالوژۍ بخار ګرځي او د ګټو او لاسته راوړنو له ژبې پرته نور څه نه پاتېږي.. څوک به حق د حاکمیت لري... څوک به قیادت کوي.. څوک به واکمني کوي.. څوک به سپرېږي... او وینو چې د تاریخ حرکت د یوې طبقې په چیغو مخته نه ځي بلکې د دولت او دولت په چیغې او د ملت او ملت په نارو او احیاناً د سپین او تور په چیغو مخته ځي. ځینې وخت د یوه تن په چیغه او کله کله د پېړیو له میراث سره پټې کینې راځي.. دا د واقعیت ځنګل دی.. د یوه نظر تابع نه دی بلکې تقریباً هره نظریه دروغ وایي.. او انسان د دغه ځنګل یو لنډیز دی چې په قانون او معادله کې دغه معما نه اسانه کېږي.

څوک چې ځان ته دا تصور ورکوي بشري نفس یې پېژندلی او قابو کړی یې دی، دروغ وایي، بلکې له موږ نه یو څوک پخپل نفس لا نه پوهېږي چې تر ټولو ډېر ورته نژدې دی او نفس یې تېرباسي او نفس یې ترې پټوي او په مخ کې یې پټوي او خپل شهوات په لاملیزو وسیلو او نظریو پټوي.. کله په دې پلمه ژوند، کار او مبارزه کوي چې ګنې دی اتل دی، بیا یې په یوه شېبه او د ازموینې په وخت کې حقیقت بربنډ شي چې یو لوی دجال دی.. او دا ناڅاپي عمل ان د ده لپاره هم حیرانوونکی وي.

انسان د ولسونو، ټولنې او تاریخ استازیتوب کوي.. ایا په حرکت کې انسان ته تاریخ نه ویل کېږي.. باور راباندې وکړئ چې د سړني کال درسونو او پېښو ډېر څه راوښودل.

## ولې ځانونه وژني؟

امريکايي نړيوال ممثل جيگ يونگ د خپلې ښځې تر وژلو وروسته ځان په ډزو وواژه..

فرانسوي ممثل شارل بواييه هم ځانوژنه وکړه همدا شان ښځې يې هم ځان وواژه او زوی يې هم انتحار وکړ..

گمراه کوونکې جذابې مشهورې ستورې مونرو هم ځان په مسکنو گوليو وواژه..

سوسن هيوارډ خپل ژوند په شرابو تباه کړ..

والان ديلون خپل ژوند په نشه يي موادو د هلاک کندې ته ورټېل واهه..

وافا گارډنر له نشې بيا په هوښ کې رانغی..

مارلين ديترتچ ته د غلا لېونتوب پيدا شو..

او گريتا گاربو د تري تم کېدو په لېونتوب اخته شوه..

زموږ په نرينه او ښځينه ممثلينو کې هم ډېر داسې شته چې ډېرو شرابو يې ژوند ترې واخيست. آيا دا نو هنر دی..؟!!

هنر وينښتيا او پام او خبراوي ته وايي نه غيب کېدو ته .. هنري تخليق وينښتيا ته وايي، بلکې د وينښتيا وروستي حد ته.

کشف او تخليق د نشې له خړې فضا نه راوځي او نه هم د شرابو په سمندر کې وده کوي، له نشه هنرمن نه هېڅ هم نه بودېږي.

بلکې منځلاري، هوا او د کار دود او ځوانان او اسانه کسب، بيا د مينې هغه درجې چې ستوري پکې د کامرو رڼاگانو او د خلکو د مينې پربنسټ ژوند کوي.. بيا دغه ستوری نه ستنېږي، خو پوهېږي چې کله تمثيل پای ته رسېږي او کله واقعيت پيلېږي.

بيا دغه ناوړه عادت چې عصري سينما پرې روږدې شوې ده او فلمي توليدوونکې پکې سيالۍ کوي.. د ممثل او ممثلې د بربنډېدو عادت گرځي د مينې او جنسي اړيکو جزييات پر لويه پرده وړاندې کوي.

هغه تفريط چې عادت گرځي.

تفريط طبعاً د افراط لامل گرځي.

د تفريط او افراط پايله دا کېږي چې ژوند له هېڅ سره برابر شي.

فطرت ځيزونه پخپل ځای نه پرېږدي، بلکې فاسدېږي او پټ رازونه پخپل چوکاټ کې نه پرېږدي.

همدا د هغه ستوري په ژوند کې نيمگړتيا گڼل کېږي چې بيا وروسته پراختيا مومي او ان د هغه پر ختمېدو تمامېږي.

بیا د یوې ستورې ستونزه دا وي چې پر خپلې ښکلا پايي بیا یې ښکلا اوبه شي او تیته شوې رڼا یې په ټولېدو شي او خپل ځان یوې تیارې ته په ټېل وهلو کې ويني، بیا یې په اړه خبرونه په ورکېدو شي او هېڅوک یې هم پوښتنه نه کوي..

دا کار معمولاً د یوې ورځې او یوې شپې په درشل کې په ناڅاپي توګه رامنځ ته کېږي لکه څرنګه چې په ناولونو کې کېږي او ناڅاپي د هېرېدو پرده پرې راښکته شي او د غوربېږ ځګونه چوي او لوی شهرت په هېڅ بدل شي، همدا د ستورو ژوند دی... مېکپ.. ډيکور.. رڼاوې.. شهرت.. د سراب په څېر ځلا.. خو شېبه وروسته هرڅه تیاره شي.. او له هغه فطرت پرته نور څه نه پاتې کېږي چې یوه ناطبیعي جعلي ژوند یې خوند او رنګ بدل کړی وي او پر اوهامو یې یادونه ولاړ وي.

ستوري پر خپلې شتمنۍ او شهرت کینه نه کوي.. ځکه دا په تکلف رامنځ ته شوی شهرت دی. د دوی دنیا ژوند او اخرت په تکلیف دي او بیا وروسته هېڅ نه ورته پاتې کېږي.

لکه څرنګه چې ځانوژنه د مادي سخت دریځه ژوند پایله کې رامنځ ته کېږي همداشان له حد نه د ډېر تدین په پایله کې هم راځي او له مبالغې ډک مریض پکې پاکېږي.

مسیح چې د نفس د وژلو امر کړی (له مسیح نه هدف طبعاً د خواهشاتو وژنه ده) .. دا کار سخت دریځی سخت زړي راهب کېدو ته لمسوي، یا یې ځانوژنې ته هڅوي لکه څرنګه چې پلار جېم جونز او د هغه ډلې د ډله ییز انتحار په نصیحت کې وکړ او په خولو یې د مسیح دا ایت تکرارېده: ((چا چې زما لپاره ځان هلاک [مړ] کړ، زه یې موندم)).

له حد تېر ښي اړخي او کیڼ اړخي کسان، مذهبي او دنیوي کسان په حقیقت کې د یوې عقیدې ملګري دي، که هرڅومره یې په تصور ورکړل شي چې دوی بېلابېل دي، خو پر یوه ځمکه ولاړ دي.. چې دا ځمکه د بشپړ رد او له هر شي انکار دی.. دغه بشپړ رد شاید د نورو کسانو په وژلو او د یا د ځان په وژلو تمام شي.

شر د جعلي ماسکونو ترشا پټېدای شي او شاید عقل هم توجیه ورته پیدا کړي، ښايي مجرم نفسونه د دین او نبیانو په ویناوو وسیله ورته وومي.. خو شر تل پخپل ذات کې شر پاتې کېږي. د شر په هغه پراخ سمندر کې نجات نژدې شوی، چې د ټولو لپاره یې دام اېښی.. هغه اعتدال دی.. د فضیلت ریښتینی فهم د متناقضو څیزونو په منځ کې منځلاری عدل دی.. فضیلت بابیزه خبرې نه دي او نه هم بې زړه توب دی. بخل هم نه دی، دا هم امکان نه لري چې اسراف دې وي.. بلکې داسې منځلاری عدالت دی چې شجاعت او کرم پکې نغښتي.

دغه منځلاریتوب د ګمراه ستورې مارلین مونرو او پلار پادري جېم جونز ترمنځ دی.. د ښي اړخو د انتحار او د کیڼ اړخو د ځانوژنې ترمنځ منځلاریتوب دی..

خو د عدالت څپو ته رسېدل یو مثبت کار دی، چې له نفس او خواهشاتو سره د پرځنګ (مبارزې) له لارې راځي، دا منفي عمل نه دی چې د تېښتې، بې هوښۍ، ناشناتوب او بې پامۍ په مټ وي.. د کمزورۍ ثمره هم نه ده، بلکې د قوت ثمره ده د بې هوښۍ ثمره هم نه ده، بلکې د ویښتیا ثمره ده.

د عدالت څپې پخپله یوه نېغه لار ده، همدا حق هم دی، چې د یوې مقالې د خپلکارې لوستنې په پایله کې نه راځي، بلکې د زړه او غړو ګډوونکي ایمان ثمره ده، داسې دردونه دي چې ویښتیا رامنځ ته کوي.

په حق د ایمان لپاره باید له حق سره په اړیکه کې یو او حق الله تعالی دی، دا مو دین ته د اخلاقو او تکامل د یوازېنۍ سرچینې په توګه ستنوي. دین د تړاو هغه نیمګړې ټکی دی چې د انتحاري چاودنو لامل ګرځي، د هر عدواني او د تېښتې د سخت دریځۍ ترشا د تړاو نیمګړې ټکی هم دی.

له ساحې نه د دین وتل د ټولو دغو پدیدو ترشا دی چې د خبرونو د ملا تیر ډکوي.

د دیانت ادعا نفاق او دروغ دي چې فرصت یې له نشتون نه خطرناک دی.

د دین په نوم د اوچتو بیرغونو ترشا له دین او پټوالي ګټه اخیستل له کفر نه خطرناک دي.

همدغه داسې نیمګړتیاوې دي چې ټول جرمونه ترې راوځي.

## ولې ناورینونه؟

په نړۍ کې ټول ناورینونه، ستونزې، سختۍ، جګړې او لوږې له یوې سرچینې راځي، د انساني ضمیر ستونزه او ورپېښېدونکې ستونزې.

اسمان پر هغو انسانانو اوبه نه لوروي او ځمکه د ژوند ځای نه ورکوي چې په ظلم او بغاوت د یو او بل وینې تویوي، یوازې خدای (جل جلاله) د ځمکې واک او له اسمانه د اوبو د تویېدو واک او توان لري، همداشان د ځمکې له زړه نه هم د اوبو د رایستلو واک ورسره دی، چې د انسانانو لپاره یې هڅه او خوځښت د رزق موندلو سبب ګرځولی، لکه څرنګه یې چې اطاعت او پرهیزګاري او مینه تر ټولو ډېر خطرناکې وږتیاوې ګرځولې.. له شک پرته شر او هغه سختۍ چې ځمکه ډوبوي له بل پلوه د کفر، شرک، اورپرستۍ، اخلاقي شاتګ او د کورنۍ د تیت پرک کېدو د ظلم بغاوت او پر ټولو ارزښتونو د مادي خواهشاتو د غلبو څپې ورسره ملګرې دي.. ان په هغو هېوادونو کې چې په دین او تدین کې په لرغوني میراث پېژندل شوي، وینو چې دغه تدین اوس یوازې ظاهري دیني شکل پاتې شوی، حال دا چې کره وړه پر اسرافي مادې اوښتې او ټول د ټولو دیني ارزښتونو په پلمه د مادیاتو او عاجلې شتمنۍ لپاره سیالۍ کوي.

په داسې حال چې په ایتیوپیا کې رواني وچکالۍ، لوږې او تندې د میلیونونو کسانو ژوند اخیستی چې د سړي زړه پرې خوږېنږي.. د ایتیوپیا لپاره د بریتانیا د مرستو د جرګګۍ راپور د سړي پام وراړوي چې وایي مرستې اړمنو خلکو ته نه دي رسېدلې او له هغو کلیو ګرځول شوې چې پاڅون کوونکي پکې دي او دغه سیمې لاهم په لوږه او تنده کې پاتې دي، مرستې پوځ او حکومتي ځواکونو ته رسېدلې دي، راپور وایي د حکومت له لوري په ادیسه ابابا کې دغه مرستې او میلیونونه ډالر په افراطي ډول پر کمونیستي مېلو، مېلمستیاوو او د ځوانانو په لاریونونو لګول شوې، خو د دغه هېواد په کلیوالو سیمو کې بزګر او د دوی څاروي له لوږې او تندې د مرګ تر خولې رسېدلي دي، دا خبره نه یوازې په ایتیوپیا کې، بلکې په ډېرو هېوادونو کې د ډېرو نورو هېوادونو په اړه کېږي.

خیر.. ان هغه سوچه خیر چې له ضمیر راوتلي وي، پر نورو ضمیرونو نه وېشل کېږي او عقیده هماغه عقیده پاتې کېږي.. زه خورم خو زما دښمن دې له لوږې ومري.. ایا په دا ډول نړۍ کې د څه شي تمه کېدای شي..

په کورنۍ او یوه هېواد کې روانو تېریو ته په کتو سره، ښکاري چې نړۍ د ظلم لوري ته روانه ده، خو بیا همدغه نړۍ د پېښو، ستونزو جګړو، سختیو او لوږو خبره کوي.

بلکې د یوه فرد په ضمیر کې دا اړدوړ روان دی او سر یې د تمو او ستونزو له هغو ګډوډیو نه خلاصېږي چې د ټولې ستونزې لپاره کیلي ګرځول کېږي..

که سمندر ککړ شي.. نو زموږ له لاسه به ککړېږي ځکه چې هرڅه ورغورځوو، زموږ د فکرونو او تمو چټلۍ یې اصلي لامل دی.

وامې وربدل چې یوه سړي خپله ښځه ملامتوله د نړۍ د بې وزلۍ ټوله ملامتیا یې پر خپلې ښځې او ټولو ښځو اچوله .. ښځه یې ناراضه او وږې وه، شکبه وه چې پر شا یې هېڅ متروکې ته د ګوزار اجازه نه ورکوله، نه یې

هم دا هڅه وه چې خپل فقر پرې لرې کړي، هغه څه يې چې ګټلي، بازار کې خپلې اړتياوې ورباندې پوره کړي او پر ځان بسيا شي.

که يې سړي شکايت رښتيا وګڼي، دی هم د خپلې ښځې په څېر ملامت دی.. دی هم د کمزورۍ له کبله ملامت دی، لکه څرنګه چې ښځه د بغاوت له کبله ملامته ده، په داسې حال کې د دوی له نسل نه زيږېدونکي هم ملامت او عيبي دي. په همدې ډول عيبونه د شمېرو په څېر ډېرېږي.. نسلونه د پرمختګ پرځای شاته ځي او د هنر، فکر ا وسياست له اړخه انساني ثمره شا ته کېږي.. له وخت سره په دغه ډول ټولنو کې علمي پرمختګ ښه نه ګڼل کېږي بلکې عيب دی؛ ځکه چې ددغو کمزورو په لاسونو کې د ټولټال ويجاړۍ وسيلې پرتې دي، هر شی لکه د سېل په شان له مخې سره وړي او د خپلو اجدادو د تمدن ميراث هره لاسته راوړنه په سيند لاهو کوي، هغه لاسته راوړنې او ميراث چې د خپل وجود د خولو او وينو په مقابل يې ترلاسه کړي.

ژر ده چې علم به د حماقت په لاس کې وسله ورکړي.

او اتومي قوت به د سرکشۍ يو قوي مټ او د تسلط د هيلې يوه وسيله وګرځي.

توغندی به د غوسې او ظلم وسيله شي.

دغه ناورين به په دې کرغېړنه څېره کې خپل مکار او چلباز ضمير قوي کړي.

خو موږ ټول ددغې ناولتيا د جرړې په ټينګولو کې ښکېل يو موږ ټولو يې د ودې او پالنې چارې پرغاړه اخيستې دي. هېڅوک هم د ځان د بې ګناهۍ او سپينوالي توان نه لري.

عمر بن الخطاب به ويل: "که په عراق کې د کوم حيوان پښه وښويېږي، نو زه به خپل ځان د دې پېښې اصلي مسوول ګڼم". همدا د حق وينا ده.. په هره ټولنه کې چې څه روان دي، په اصل کې يې د وګړو د کړنو پايله ده او هر يو پکې د خپل توان مطابق مسوول دی، له پيل او بنسټ نيولې تر اوج ته رسېدو پورې.

هرڅه چې موږ ته راپېښېږي، هر يو په لار کې يوازې له خپل ځان سره مخامخېږي.. مجرم ته د جرم کولو وسيلې برابرېږي او مخيّر ته خير او ورکړې زمينه برابرېږي.

هرڅومره چې زموږ لاسونه سخاوت کوي، ځمکه پر موږ د سخاوت چينې راپرانيزي، اسمان پر موږ د رحم اوبه راتويوي؛ ځکه هغه چا چې دا کائنات او نړۍ پيدا کړې ده داسې ساتندويه قوانين يې هم ورته جوړ کړي، چې د ودې تر شېبې پورې پرمختګ پکې وکړي او وځلېږي او هغه ويجاړوونکي قوانين يې ورته وضع کړي چې د فساد تر دوام پورې ورسره مل وي او بيا چينجي پکې سوري وکړي.

د يوې ټولنې بنسټ هم په وده او پرمختګ کې د بدن د جوړښت حيثيت لري، د همغږۍ، نظام او سمون تر وخته پکې وده او پرمختګ وي، خو که څپڅپانده حالت، ګډوډي او ناروغي پرې لاسبرې شي ځای يې تورې خاورې دی.

تقدير مه ملامتوئ، مه هم اسمان ته د ملامتیا گوته نیسئ، دا هم مه وایئ رب مو په دې ناورینونو کې زورزیاتی راسره وکړ..

بلکې ووایاست "اې ربه موږ پر خپل ځان ظلم وکړ.."

هر یو دې پخپل جاغه کې سر ټیټ کړي چې د خپل ځان په دولت کې څه کوي او د خپلو هیلو کوم لوري ته کوږ دی.. بېړنیو خوندونو او خپلې شخصي گټې ته مایله دی او که د محروم لاسنیوي او د کمزوري مرستې ته..

مادي بوتانو ته یې مخ دی؟؟! او که ارزښتونو ته.. او که د ارزښتونو رب ته، بیا دې وگوري چې څه کوي، نه دا چې څه وایي.. څه پټوي نه دا چې څه بربنډوي.. په دې وخت کې د خپلې پوښتنې ځواب موندلی شي چې.. ولې دا ټولې ناخوالې او ناورینونه راغلي..

# توري ټيټ مه گڼئ

موږ له دود سره سم په بېهوده خبرو  او په خبريالو ډلو ملنډې وهو. هتلر له خبرې پرته بل څه نه وو.. جرمني د دغه سړي خبرې پر لوی لېونتوب بدل کړ او تر شا يې جوبلز او د هغه ډنډورې وې، بيا دا ډنډوره لېونيو ځوانانو واورېده او لېونتوب يې په اروپا کې د ويجاړوونکي توپان څپې خپرې کړې، ميليونونه وگړي يې د مرگ تر پولې وڅکول او پراخه ويجاړې يې پرېښوده؟

ايا له شلو کلونو راهيسې د عبدالناصر د واکمنۍ پرمهال د خبرو بنديوانان نه يو په يمن او په کانگو کې جنگېږو او د روسي ـ مصري ملگرتيا لپاره چکچکې وهو، پر فيصل او د امريکا پر امپرياليې شاتگ لعنت وايو؟

ايا يوسف السباعي هغه سړی وواژه چې عقل يې له خبرو ډک و؟

ايا د مينې خبرې لوی سړي په جگړې نه دي اخته کړي؟ ايا ځوانان يې نهيلۍ او ځانوژنې ته نه دي اړايستلي؟

د باطن خبرو پر وگړو او ولسونو څه کهانې نه دي کړې.

همدا دروغجنې خبرې چې کله د کاغذ پر مخ خلکو ته راووځي او په راديو، تلوېزيون، کتابونو او ورځپاڼو کې خپرې شي، نو د حق د خبرو لپاره هېڅ ځای نه پرېږدي.

ايا کوم وخت دې په ذهن کې درگرځېدلي چې کيوبا له روسيې او امريکا سره په جگړه کېوتې ده او پر دواړو بريالۍ شوې ده..

دا ډېر پخوا هغه مهال پېښ شوي چې د قريشو د قبيلې يوه ډله د روم او فُرس (فارس) جگړې ته راووته او پر دواړو لاسبرې شوه.. په اصل کې د يوه کتاب په برکت چې قرآن دی دوی بريا پيدا کړه، له فارس سمندرغاړو يې تر اطلس سمندرغاړو ورساوه.

خو باطل پخپلو کړيکو هېڅ پرې نه ښودل، همدا شان هتلر او همدارنگه نازيانو دا کار وکړ، د تتارو او هکسوس پوځيانو هم دا کهانه وکړه، همدا ډول د عبدالناصر غزاگانې هم پايته ورسېدې.

خو اسلام به د مسلمانانو تر ماتې وروسته هم پر ځمکه پاتې وي.. د قيامت تر راتلو به پاتې وي.. ولو که مسلمانان او مسلمان ولسونه ډېر کمزوري، وروسته پاتې او تيت پرک هم شي.

دا توري دي.. د تورو سحر او اغېز دی.. د تورو او وينا ځواک دی.

ان باطلې دروغجنې خبرې هم خپل اغېز لري، وژنې کوي او تاريخ بدلوي. د مارکسيزم ويناوو، ژمنو او شعارونو څه ونه کړل؟ نيمه نړۍ يې د نيمې نورې پر وړاندې دښمنه کړه چې لاهم يو بل ته ښکر په ښکر ده او هر ځای د فتنو اور بل دی.

دا توري دي.. له تورو (حروفو) جوړ شوي ماينونه.. چې الله (جل جلاله)  پکې د خير او شر پټ رازونه نغښتي دي.

الله تعالی ادم ته ټول نومونه وروښودل چې پر هر نوم پوی شي. د تورو سردار شو کارول یې، خو تورو له ده ګټه وانخیسته.

خو وضعیت سرچپه شو اوس خبرې پر انسان واکمني کوي.. د دې پرځای چې عقل روښانه کړي، پټ یې ساتي. توري چې په شعري بڼه وي، اغېز یې لا ډېر وي.

خو د شاعر لپاره همدومره ګران هم تمامېږي.

ایا متنبي شاعر له بریدګرو شوکمارو د تېښتې هڅه ونه کړه، دوی د ملنډو په بڼه ورته ویل: اې بې زړه ته ولې رانه تښتې حال دا چې دا شعر تا ویلی دی:

الخَیلُ واللّیلُ والبَیداءُ تَشْهَدُ لِي

والسیفُ والرّمحُ والقرطاسُ والقلمُ

(اس، شپه او بېدیا زما پر شجاعت ګواه دي، ځکه چې دغه څیزونه له کت سره اشنا دي، په شپه کې ډېر ګرځم، پر آس ډېر سپرېږم او په بېدیا کې ډېر سفر کوم، همدا ده چې ورسره اشنا شوی یم. له تورې، غشي او جګړې سره هم ډېر اشنا شوی یم ځکه ډېره جګړه کوم، قلم او کتابونه مې شاهديورکوي چې دغه کارونه کوم او لیکم یې).

دغه مسکین د خپل اس پړی خوشې کړ او د ځان په دفاع کې تر وژل کېدو پورې وجنګېده.

پخوا به د شعر یوه بیت په کلیوالو سیمو کې پر ټاکلي وخت د چاودېدونکي بم کار ورکاوه او د جګړو اور به یې بلاوه.. او اوس د زړونو د سوځولو لپاره د مینې د سوځنده فلتې کار ورکوي او د موسیقۍ او سندرو په وسیله باکرې نجونې فاسدوي.

همدا توري دي.

د سړي له خولې راوتونکي توري نه ستنېدونکی طلاق ګرځي، یا د مینې او زړه سوي رڼاوې شیندي.. د واکمن له خولې راوتونکې خبره جګړه یا سوله ګرځي یا ظلم او ترهه، کله چې له خولې خبرې راووځي بېرته یې د ستنېدو چاره نه شته.

لکه مرمۍ راوځي بیا نه راګرځي.

ځینې وخت موږ په تورو څیزونه انځوروو او بیا مینه ورسره کوو..له خپلو خبرو پرته له بل څه سره مینه نه کوو که څه هم ګومان کوو چې له څیزونو سره مینه لرو.

د ویناوو نړۍ له موږ حقیقتونه پټ ساتي لکه څنګه چې پردې او ماسکونه تر شا څیزونه پټوي، کټ مټ لکه طلایي رنګ چې د رنګ تر شا څیزونه د کلپ (جعلي) پېر و پلور او پر وخت د توکو اصلیت پټ ساتي.

د خدای (جل جلاله) یو عارف محمد بن عبدالجبار بن الحسن النفري وایي:

- توری د هغه د معنا سَتَر دی په دې معنا چې ماهیت یې پټوي.
- توری الله تعالی نه شي څرګندولی؛ ځکه چې د هغه مخلوق دی.. بلکې توری یو سمبول او د الله تعالی د ښکارنده نښو نښانو د روښانه کولو لپاره دېوال دی.
- دنیا او اخرت په توري کې ډوب دی او توری تر هغو نه ډوبېږي چې د الله تعالی مخ یې نه وي لیدلی.
- رب ورته وایي:
- تر هغو مې نه شې لیدلی چې له حرف او محروف تېر نه شې او له کلمې او خاطر نه تېر نه شې او له عبارت پرته پوی نه شې.

ورته وایي:

- زما چوپ بندګان شته چې زما شان یې لیدلی او خبرې ورسره نه شي کولی، زما لویي یې لیدلې او هغه نه شي ستایلی، لاهم زما تر راتګه چوپ پاتې دي او زما لوري ته تر راتلو پورې یې له خپلې چوپتیا نه راوباسم.. تر خپله وسه ما ته چوپه خوله پاتې شه ترڅو زما چوپ بنده وګرځې.

له چوپ بنده سره تر وخت مخکې ګورم او تر خپله کوره ورسره مل یم.. همده ته لومړی بلنه ورکوم که راغلې.

د نطق او چوپتیا ترمنځ یو مانع دی چې د عقل قبر او د څیزونو قبرونه پکې دي.

ورته وایي:

- اې بنده، په حرف زما شان و شوکت دی.

اې بنده که د توري په ژبه توبه وباسې د حرف په ژبه به یې نقض کوې او که د حرف په ژبه اطاعت وکړې د حرف په ژبه به یې نافرماني کوې.

اې بنده زما لویي له حرف او د حرف له حدودو پاکه کړه. خپله ستاینه زما په لاس زما په سیوري ولیکه، چې راسره مخامخ شې رانژدې به یې.

ورته وایي:

- حروف د نفسونو ماده ده، تر هغو چې په نفسونو پسې یې ته تیت پرک یې.

زما په ډله کې تر هغو مه کېږه چې له خپل نفس تېر شوی نه یې او تر هغو له خپل نفس مه تېرېږه چې له حروفو وتلی نه یې.

ورته وایي:

- د حرف له مسمی نه ووځه له معنا به يې ووځې، کله يې چې له معنا ووتلې نو زه به له (حبل الورید) د "غاړې له رګ" نه درته نژدې يم.. له (حبل) او (ورید) او (زه) کلمو هله ووځه، کله چې له (زه) کلمې ووتلې زه به ظاهر يم او باطن يم او پر هر شي خبر يم.

ورته وايي:

- حرف د غرونو ترمنځ د شیطان ژوره لاره ده.

ورته وايي:

- حرف زما حرف دی او علم زما علم دی او ته زما بنده يې نه زما د حرف بنده او نه زما د علم بنده.

ورته وايي:

- اې زما بنده، هغه څوک مې ويني چې له نطق او صمت تېر شوی وي له علم او جهل تېر شوی وي او له حد تېر شوی وي.

ورته وايي:

- اې بنده، که غواړې له ما پرته بل څوک دې ذهن کې نه وي او غواړې له کلمې او عبارت او پکې له نغښتو دنیوي فتنو نه ووځې، په (نفی) کې (لا) چوکاټ نصب کړه.. (لا اله الا الله).. او پوه شه چې نفی له ما پرته پر بل چا نه شته، لکه څرنګه چې اثبات له ما پرته پر بل چا نه شته..

همدا زه به دې پخپل فضل له (بل) نه نفی کوم، او پخپل نعمت به دې په څنګ کې ثابتوم.

دا د يوه داسې سړي الهامات دي چې پر مرګ يې څه باندې زر کلونه تېر شوي.. او په علم پوی شوی چې کلمه چل دی او حرف د غرونو ترمنځ د شیطان ژوره لار ده.. تر هغو انسان د کمال درجې ته نه شي رسېدلی چې له حروفو تېر شوی نه وي او د کلمو موانع يې له منځه وړي نه وي.

سړی ومړ او ختم شو.

ولسونه مړه شول او ختم شول؛ ځکه چې د حروفو په اسارت کې وو او د کلمو عبادت يې کاوه د شعارونو تابع وو او د عبارتونو شیطانانو لوبېورباندې کولې.

دغه لوی عارف وايي واصل ته تر هغو رسېدل نه کېږي چې د کلمو او حروفو له موانعو سړی وتلی نه وي.

خو کلمې او حروف په دنیا کې د هرڅه د بربنډولو دېوالونه دي.

کلمې د هر هغه څه لپاره لوښی دی چې وينو، اورو او حس کوو يې.

له کلمو وتل له دنیا نه د وتلو په معنا دي، له ټولو حدودو او بنو څخه.

دا د شکلونو له سیطرې وتل دي او د هر ښکلي له منګولو بهر کېدل دي.

له دغو فتنو وتل تر هغو ناشوني دي چې له نفس نه سرې وتلی نه وي؛ ځکه چې دنیا د نفس ځای دی د تمې ځای یې دی او د معشوقې ځای یې دی.

دا ستا له پوستکي وتل دي حال دا چې ته پخپل پوستکي کې یې.

زموږ ګران نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي "خلک ویده دي کله چې مړه شي په هوښ کې شي" په دې معنا چې لا اله الا الله ته راویښ شئ.. تر څو چې په دنیا کې یاست، له الله (جل جلاله) پرته له بل چا سره تړاو مه نیسئ.

ورته وایي:

((په دنیا کې د یوه تېرېدونکي مسافر په توګه ژوند وکړه)) په دې معنا چې پر هېڅ شي پورې ځان مه بندوئ ترڅو په سالم زړه ومرئ.

قرآن د قیامت ورځې په اړه وایي:

﴿يَوْمَ لَا يَنْفَعُ مَالٌ وَلَا بَنُونَ، إِلَّا مَنْ أَتَى اللهَ بِقَلْبٍ سَلِيمٍ﴾.

یعنې له هر ډول تړاو سالم.. چې له الله (جل جلاله) پرته نور څه پکې نه وي.. همدا په ژوره معنا اسلامي پاکوالی دی.

نبي علیه الصلاة والسلام فرمایي: ((چا چې پر یوه شي پورې ځان وتاړه، هماغه ورته وسپارل شول)) یعنې که له الله (جل جلاله) پرته پر بل شي پورې ځان وتړې له ولایت یې وتلی یې.

اوس موږ له دې لوړ پاکوالي څومره لیرې یو!

له دغه لوړ مدنیت نه زموږ تمدن څومره لیرې دی، هغه مدنیت چې کامل نبي پرې ولاړ و او بیا یې هغه لوی صوفي پلوي وکړه.

له سلګونو کلونو وروسته انسانیت دغه حد ته رسېدلی، لکه د غوربېږ او کلمو په سمندر کې چې یوه دنګه او یوازېنۍ جګه مناره ولاړه وي.

زموږ نبي د ټولو صوفیانو له کړنو لویه معجزه لرله، د دوی لپاره شیخ او د ټولو راتلونکو نسلونو لپاره لارښود وګرځېد.

دنیا ته په داسې حال کې راغی چې پر هېڅ دنیوي څیز پورې تړلی نه و، غنا یې وپېژنده خو ټوله شتمني یې د خلکو وه.. ډېرې ښځې یې وکړې خو یوې هم دی له خپل رب نه یوه شېبه هم لیرې نه کړ، هغه یو مخکښ او واکمن و، پاچا و خو پاچاهۍ یې تواضع او عبودیت د سترګو په رپ کې هم ترې پټ نه کړل..

د خدای (جل جلاله) عارف محمد بن عبدالجبار بن الحسن النفري د تصوف یوه بېلگه وه، خو موږ چې دنیا ته ورگډ شو له ککړتیاوو یې ځانونه نه شو ساتلی بلکې په خبرو کې ډوب شو.

یوځل د لوېدیځ تقلید کوو په انگلیسي فرانسوي او اسپانوي گډوډې پیل کړو.

یو ځل د شرق تقلید وکړو په روسي مو سر شي.

باید خپل هویت ته ستانه شو.. خبرې پیل کړو او په خبرو پای ته ورسېږو.

## علمي جَهل

يوازې علم د انسان جوړښت ته كفايت نه كوي.. د سګرېټو او نشې په زيان ټول پوهېږو، ډاکټر د شرابو په زيان ښه خبر دی، خو څښي يې.. وينو چې ډېری خلک د خپلو خواهشاتو تابع دي حال دا چې د خواهشاتو پر حيوانيت او ګمراهۍ ښه پوهېږي.

اديبان او هنرمندان وينو چې د ويښتيا مخکښان دي.. د نشې لېوانيان او قربانيان دي.

وينو چې قاضي بډې اخلي.

ګورو قانون تطبيقوونكی غلا كوي.

امنيت ساتونكي پوليس د ناامنۍ په جوړولو کې وينو.

د حق ګواهان د دروغو په جوړولو بوخت وينو.

ډوډۍ ته تر ټولو ډېر ماړه او چاغ كسان توتلي دي، خو پوهېږي چې په خوړو کې يې مرګ نغښتی.

د پوهنتون استاد او دوكتورا لرونكی وينو چې د فوټبال لوبغالي کې د سكتې له كبله مري؛ ځكه چې هدف يې د خوښې ډلې يو ګول وهلی.. ايا متعلم استاد پر دې جاهل دی چې په لوبغالي کې يې چې په مخ کې څه روان دي يوازې لوبه ده.. ده ته يې علم څه ګټه رسولې ده.

موږ ټول پر دې سلا يو چې د تلوېزيون پروګرامونه بې ګټې دي، خو بيا هم تلوېزيون ته په رډو رډو سترګو ګورو او د احمق په څېر يوه ډرامه لا نه وي ختمه شوې چې بلې ته په انتظار يو.

د دين پتنګان وينو چې تر نورو خلكو لومړی دوی په هغه څه کې لوېږي چې ترې منع شوي.. ايا د حلالو او حرامو جهل دی؟!!

حيوان هم حلال او حرام پېژني.. پيشو هغه څه خوري چې مخې ته يې ستا لاس ور واچوي، ستا مخې ته بوڅه ناسته وي او مياو مياو كوي او پر مخ پنجې تېروي، خو كه د يوې ګولې موقع ورته پيدا شي، له بل دريځه ګټه اخلي شاوخوا ګوري او د خلكو كاته غلا كوي ښۍ او ګينې خوا ته ګوري د كب پر يوې ټوټې حمله كوي او په يوه ګوښه کې يې خوري.. دا كارونه د حلالې او حرامې ګولې په ټينګ تمييز دلالت كوي.. پيشو يو حيوان دی.. هغې په ازهر کې كومه فقه نه ده لوستې.. د هغه مذهبي سړي به څه حال وي چې فقه يې زده کړې او لوستې دی.

نو علم د شخصيت كيلي نه ده.

شايد له تا سره د انيشټاين علم وي خو علم دې ګومه ګټه نه در رسوي، بلكې تر ټولو د ټيټو اخلاقو او ډېر رذيل ژوند څښتن ياست.

د خلکو اخلاقي درجې په علم کې د دوی د توپیر له کبله نه دي.. بلکې د توپیر لامل یې په بل څه کې دی.. چې هغه همت او عزم دی.. د نشې کولو د زیان په اړه ستا علم د دې لپاره کفایت نه کوي چې ځان ترې وساتې، بلکې یوه بل شي ته اړتیا ده چې همت او عزم دی.. دا کار هله تحقق مومي چې علم ستا په باطن کې پر یوه شعور بدل شي له زړه سره یو ځای شي له ضررناک شي او کار سره یې د کرکې ثمره پخه شي او د ردولو لپاره یې همت ټینګ شي.

همداشان، علم انسان تر هغو نه منع کوي چې دیني علم یې پر عمل بدل نه شي او د الهي جلال د حضور تصور ونه کړي، بیا نو د خپل رب داسې عبادت کوي لکه په سترګو یې چې ویني او دغه لیدنه پکې وېره او مینه ویښوي او عزم او همت پکې راپورته کوي.

له دغه همت پرته علم اخلاق تر ثمر پورې نه رسوي او نه هم حکمت راڅرګندېږي.. بلکې علم پر یوه نقیض بدلېږي او د ظلم پر یوې وسیلې اوړي. همدا د علم داسې جاهلیت دی چې نن یې پخپلو سترګو وینو.. برېښنایي توکي په غلا کې کاروو .. او په ویجاړۍ کې اتوم.. او کیمیا د نشه یي توکو په ابتکار کې.. او ټکنالوژي په جګړو کې.. او طب د میندوارۍ په مخنیوي او د لذت په اوږدوالي کې.. او مصنوعي سپوږمکۍ په څارګرۍ کې.. او فضایي علوم د ځمکې شاوخوا د مداري بمونو په جوړولو او د خلکو په ګواښلو کې.. او چاودېدونکي د سړک غاړې بمونه د پیغامونو په ډکولو کې.
همدا د (عاد) د قوم یو لوی انځور و چې قرآن یې په اړه وایي: ﴿أَتَبْنُونَ بِكُلِّ رِيعٍ آيَةً تَعْبَثُونَ، وَ تَتَّخِذُونَ مَصَانِعَ لَعَلَّكُمْ تَخْلُدُونَ، وَ إِذَا بَطَشْتُمْ بَطَشْتُمْ جَبَّارِينَ، فَاتَّقُوا اللهَ وَ أَطِيعُونِ، وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ﴾. (تاسې څه کوئ چې پر هره لوړه یو بابیزه یادګاري څلی جوړوئ. او دنګې ماڼۍ ودانوئ، فکر کوئ چې دلته ستاسې تلپاتې ژوند دی او کله چې پر چا باندې لاس پورته کوئ، د جابرانو په توګه یې پورته کوئ. نو تاسې له الله (جل جلاله) څخه و وېرېږئ او زما پیروي وکړئ او له هغه ذات څخه و وېرېږئ چې تاسې ته یې هغه څه درکړي چې پرې پوهېږئ). د الشعراء سورت ۱۲۸ ـ ۱۳۲ آیتونه.

ورته وایي ﴿وَاتَّقُوا الَّذِي أَمَدَّكُمْ بِمَا تَعْلَمُونَ﴾ چې وریاد کړي دغه علم چې دوی په شر او دښمنۍ کې کاروله، د ده له خوا مرسته ده او که دی وغواړي نو په جهل او کوچیاني ژوند کې به یې پرېږدي، دوی ته غوره دا ده چې پرهېزګاره شي [ځانونه وساتي].

بل ځای یې په اړه وایي: ﴿أَلَمْ تَرَ كَيفَ فَعَلَ رَبُّکَ بِعَادٍ، إِرَمَ ذَاتِ العِمَادِ، التي لَمْ يُخْلَقْ مِثْلُهَا في البِلادِ﴾. (ایا ودې نه لید چې ستا رب د عاد له قوم سره څه وکړل؟ د ارم ښار له لوړو ستنو لرونکو سره. چې د هغه بېلګه په هېڅ بله سیمه کې نه وه پیدا کړای شوې). د الفجر سورت ٦ ـ ٧ـ ٨ آیتونه.

دا روسیه او امریکا په لوی انځور کې د شلمې پېړۍ له امکاناتو سره.. دغه دوه لوی قوتونه چې په نړۍ کې یې مثل نه شته.. د اوسپنې لرونکې وسلتونونه او بې شمېره پوځونه.. او ظالم سرکشان.. او هغه عقلونه چې د ژوندیو په بدنونو کې د مړیو د زړونو په پیوندولو شپې سبا کوي، بېدیاوې زرغونوي، په فضا کې ګرځي..

یو لوی علم چې هره ورځ په یوه داسې نړۍ کې پرمختګ کوي چې رحمت پکې هره ورځ کمزوری کېږي او مینه پکې هره ورځ مړاوې کېږي او ترهوونکې بد اخلاقه جاهلیت ته لاره هوارېږي.

ایا د لومړیو خلکو په څېر پر موږ هم صدق کوي او د الله (جل جلاله) امر به راځي او د دغه مدنیت لوړ به تر ټولو ټیټېږي؟ او که موږ د یوه دیني پاڅون او روحاني سهار په مخ کې یو چې دغه تمدن پکې بیا خپل توازن تکرار کړي او د مادیت پر ګام د دغه نګوښېدلي ټوپ پر ځای پر خپلو پښو ولاړ شي.

باوري یم چې راتلونکی ګړیځ به داسې دیني ویښتیا راولي چې انډولونه به بدل کړي او موږ به د لویو پېښو شاهدان یو.. د زړه سوي پېښې نه د رټلو پېښې.. دا د نبوت له څه باندې زر کلنې اوږدې دورې وروسته طبیعي ده.

له څوارلس پېړیو وروسته دا هم طبیعي ده چې د خدای (جل جلاله) کلمه بیا ستنه شي او یوځل بیا په داسې نړۍ کې تر هرڅه لوړ شي چې د دغو وږمو لپاره تنده د ژوندي پاتې کېدو په معنا ده او په داسې زمانه کې د رڼا انتظار ایستل کېږي چې له هرې خوا پرې تیارې راخپرې دي.

ایا دا به د مسیح راکوزېدل وي..

او که به د مهدي پیدا کېدل وي..

دغه دواړه لیرې نه ګڼم؛ ځکه له شک پرته موږ د (دجال) په زمانه کې اوسېږو.. که دجال پخپله راڅرګند نه دی، نو د نړۍ په هر ګوټ کې خو یې فکر، حیلې، کړه وړه او فلسفه شته.. یوازې دا پاتې ده چې ځان اعلان کړي او بیا د پای پېښې پیل شي.

له بندګانو نه د خدای (جل جلاله) د رحمت مرسته هم نه شي غوڅېدلی، هغه هم په داسې وخت کې چې دوی تر هر بل وخت اوس د هغه زړه سوي او رحمت ته اړ دي؛ ځکه چې الله (جل جلاله) رحمن او رحیم دی، موږ یې پخپل رحمت سره پیدا کړي یو او زموږ تېروتنې پخپل رحمت سره بښي او له مرګ وروسته یې د رحمت جنتونه راته پراخه کړي دي.

# د ولسونو د ازادولو لوبه

ځینې وخت غرور انسان داسې حالت ته رسوي چې گومان کوي د هر شي واک لري، روزي ورکوي او د روزۍ مخه نیسي، هر شی ودانوي، شاړه ځمکه ژوندۍ کوي او د خلکو له اوږو گټه وټه پورته کوي، عدالت او خیر خپروي او تاریخ ته بدلون ورکوي.

ایا علم دا توان نه لري چې په مټ یې غرونه لېږدول کېږي، د اوبو د بهېدو تگلوري بدلېږي، بندونه پرې تړل کېږي، باران وروي، بېدیاوې زرغونوي، ناروغانو ته شفاء ورکوي، میکروب له منځه وړي او وېروس ختموي؟

خو پخپل ځان کې ځان ته چل جوړوي چې وایي خوښې یې دې عملي شي او مادي چاپېریال دې د ده خوښې ته سر ټیټ کړي او ټولنیزه خمیره د ده په لاس جوړېږي او د ده واک ته په سلامۍ ولاړه وي.

دغه تېرایستنه هغه خمیره ده چې لوی ظالمان، باغیان او د ولسونو وینې څښونکي ترې راوتلي لکه: نیرون او هتلر، ستالین او فرانکو، سالازار او موسولیني او مونجستو. هر یوه یې ځان ازادوونکی، مخلص او د زرغون لاس څښتن گاڼه، خو نه پوهېدل په دې گومان ځانونه تېرباسي چې گني چاپېریال ورته مسخر دی، عام خلک ورته تسلیم شوي، خپل ځان، ترسره کوونکی، جوړوونکی او ودانوونکی گڼي، له عدم نه پروژې جوړوي، جغرافیوي نقشه بدلوي او تاریخي نقشه تغییروي.

هر یو یې د داسې فلسفې او مذهب ادعا کوي چې د سلگونو کسانو وژنې او د زرگونو بندیانولو ته د خپل کار لپاره پکې توجیه ومومي.

ستالین مارکسي بیرغ وکاراوه چې و وایي ولسونه له لوږې ازادوي، او ازادي دا ده چې هر وگړی د خوړلو لپاره یوڅه وموmي او خواړه ډېر کړي، هېڅوک ونه وایي چې (نه) یا اعتراض وکړي، هرڅوک چې اعتراض کوي، مخرب او منحرف گڼل کېږي، چې سزا یې اعدام، زندان او یا تبعیدول دي.

په دې سره یې هغه پنځه میلیونه بزگران اعدام کړل چې د خپلو کوچنیو ملکیتونو له منځه تلو پر وړاندې یې اعتراض کړی و، خو ده په ساده ژبه وویل دغه بزگران یې ځکه ووژل چې نورو خلکو ته هوساینه، پرمختگ، عدالت او ازادي پیدا شي.. او ټول له دې کاره لاس ومینځي.

ظالمانو د سمندر پر بله څنډه ځانونه ته یو بل مذهب او بل دین جوړ کړی چې د قتل لپاره توجیه پیدا کړي.

هر یوه یې ویل چې د ولسونو ازادوونکی دی او له حدودو پرته په ملکیت، پانگونې، لاسته راوړنې او بسیا کېدو کې د ټولو لاسونه خلاص دي، ټول دې د بازار په سمندر کې سیالي وکړي که لوی کب کوچنی کب وخوړ نو مداخله به نه کوي، هغه شرفداره سیالي خوښوي، که لوی کب راووت اوبه او رڼا یې خړ پړ کړل که څوک غواړي نو چیغې وهلی او احتجاج کولی شي او څه چې وغواړي پارلمان کې یې دې ووایي، ځکه موږ په یوه ازاد هېواد کې یو او ما ټول ازاد کړي دي.

له دغو ناترسو هر یوه ویل نظام یې دیموکراتیک دی او د رادیوګانو چرچهاری ښۍ او کینې خواوو ته خلک پکو کړي وو، هر یو نظام ادعا کوي چې دیموکراسي یې ریښتینې ده او د بل دیموکراسي کلپه ده.

وژنو، ظلم، بندي کولو او تبعید د دواړو لورو له خوا روان و.

د واک پر ګدۍ ناستو داسې انګېرله چې ګني دا ګټه د ټولنیزو لاسته راوړنو او بیارغونې له برکته ده.

موږ ټیک شل کاله دغې نشه کوونکې سندرې ته غوږ وو.. د لاسته راوړنو، بیا رغونې ودانولو، کرامت او ازادۍ سندره، خو قهر، قتل، زندان، د عقل او کرامت له منځه وړل، د ازادۍ ختمول هغه ناورین و چې د واک پر ګدۍ د ناستو کسانو د خدمت لپاره یې د قوي مرکزونو په موخه د هر کور خوښي ترې اخیستې وه او واکمنو له هر ډول تېروتنې ځانونه پاک ګڼل، باور یې دا و چې دوی سپینې پرښتې دي، همدوی موږ ته ازادي، ډوډۍ او پرمختګ راوړی دی.

خو دغه وضعیت دوام ونه کړ او د واکمن په خوښه د چاپېریال مسخر کېدو دوام ونه کړ او د علم هغې معجزې ګټه ونه کړه چې غرونه لېږدوي او د اوبو د ویالو تګلوری بدلوي، بېدیاوې زرغوني.

هغه ځمکه چې انګرېزیان ترې وایستل شول، یهودان ورننوتل او هغه تونل ته چې دوی مخه کړې وه، ویجاړ یې کړ او هغه یووالی چې دوی اعلان کړی و، سرچپه شو او له امریکا ازادي پایته ورسېده او د روسیې منګولې پرې ټینګې شوې او د تولید کچه تر ټولو ټیټې درجې ته ښکته شوه، د کار پراختیا ختمه شوه او هرچا په بې کارۍ قناعت وکړ، زرګونه کارکوونکي په دفترونو کې مازې وخت تېروي او هېڅ کار نه کوي.. په ښوونځیو، پوهنتونو او ازمیښتځایونو کې وړیا تعلیم ختم شو، خو په ټولګیو کې زرګونه زده کوونکي امبار شول او تعلیم شاته پاتې شو.. زموږ هغه ملګری چې په کانګو، یمن، سودان او الجزایر کې جنګېده، ټول ولسونه یې د تاج او تخت ړنګولو ته هڅول.. دغه ملګري ته به مو چې زرین فرصت پیدا شو پخپل هېواد مصر کې وجنګېږي.. شاته به شو.

څه وشول؟

ایا حسابونه تېروتل؟

ولې تقدیر ځواب نه ورکوي؟

دا نه یوازې موږ ته راپېښېږي، بلکې د هر مذهب پیروانو ظالمانو ته پېښېږي.

له روسیې هغه ووتل چې ستالین سوځولي وو او د اوکرایین هغه خړوبې ځمکې چې د غنمو سروسامان پکې نه و، وچې کړې، خرشوف د ځان ګڼلو له کبله د کرنیزو محصولاتو د خطرناک ټیټوالي او صناعي تولید د ناوړه کېدو پړه ومنله. د کوسیجین بریجنیف ډله راغله چې د سایبریا د ودانولو او په روسیه کې د منهاټن د بانکي څانګو د پرانیستلو لپاره د امریکا تجربه او امریکایي پانګونه وغواړي.

په بل اړخ کې مو امریکا ولیده چې چین یې په غېږ کې نیولی، بیا مو کمونیستي وروڼه ولیدل چې ویتنام او کمبوډیا کې یې یو بل سره وژل.

چین مو ولید چې پر روسیې یې خپله لکړه پورته کړه، په ایران کې شاه او نظام یې د امریکایي پلوي ملاتړ سربېره وپرځېدل، دی او کورنۍ مو یې په منډو منډو ولیدل چې د یوه اتیا کلن مذهبي بوډا سړي ایت الله خمیني له چیغې وروسته د پټنځي په لټه کې وو.

څه وشول؟

ایا حسابونه تېروتل؟

ولې تقدیر دغو لویو واکمنانو ته لبیک ونه وایه لکه څرنګه چې دوی عادت شوي او موږ هم ورسره عادت شوي وو؟

راز یې اسانه دی.. د دوی دروغ افشا شول، هېڅ یوه یې هم هېڅکه د هر شي واک نه درلود، نه هم مطلق رازق او ورکوونکی و، نه ژوندی کوونکی او نه هم مړ کوونکی و، بلکې الله تعالی یې په لاسونو ځینې وخت د دوی چل ول پرېښود او ځانونه ورته د ولسونو ازادوونکي د ډوډۍ پیدا کوونکي، عدالت او خیر راوستونکي او د بېدیاوو زرغونوونکي ښکاره شول..

کله چې دوی د غرور تر څوکې ورسېدل او ځان یې په تقدیر کې مطلب لاسبري ګڼل، چې ګنې په زمانه کې همدوی دي او د هېڅ کړنې پوښتنه او حساب به نه ترې کېږي، خدای (جل جلاله) ترې واک واخیست او خپله لمن یې پخپله پر شا واړوله او خپل عورت یې پخپله لوڅ کړ خپله نیمګړتیا یې ښکاره او بیرغ یې راټیټ شو.

حقیقت دا دی چې له الله (جل جلاله) پرته هېڅوک د رزق ورکولو یا نه ورکولو واک نه لري، نه هم د ودانولو او ازادۍ ورکولو او لوړولو توان لري، انسان چې هر ډول ښک کارونه کوي هغه د الهي وکالت او خلافت، اجازې او رضایت له مخې کوي، هر وخت واکمن د خالق د ارادې وسیله وي او تر لاس لاندې اسباب یې د الهي اسانۍ او تمکین ښکارندویان وي.

یو واکمن څرنګه کولی شي یوه ولس ته ازادي ورکړي حال دا چې خپل ځان ته یې هم نه شي ورکولی، دغه ظالم واکمن په داسې حال کې راوېښ شي چې لاس او پښه یې نه وي او ځان شل او د بسترې بندي ووینې، لید یې په یوه شېبه کې له منځه ولاړ شي او لارورکی شي.. په پای کې په داسې مرګ ومري چې د هر ډاکټر ور یې ورټکولی وي، خو علم او طب هېڅ ګټه نه وي ورته کړې او نه یې هم د هغه ژوند ژغورلی وي، هغه څوک به موږ ته څه ژوند راکړی شي چې خپل ځان ته یې نه شي ورکولی! ؟ موږ به څرنګه ازاد کړي چې د خپل ځان د ازادولو واک هم نه لري! ؟ ایا د ایران شاه ته اوو میلیونو ډالرو ګټه وکړه ـ چې ویې نه کړه ـ او یوازې د پټنځي په لټه کې و، خو ویې نه موند.. خوراک یې کاوه، خو هاضمه یې نه وه، څملاسته خو خوب یې ورک و؟

اې خلکو!

کله به پوهېږئ چې واکمني يوازې خدای (جل جلاله) لره ده؟

يوازې خدای (جل جلاله) رزق ورکوي، منع کوي يې، ودانول کوي او بېدياوې زرغوني، تاريخ بدلوي او جغرافيه تغييروي.

يوازې همدی ازادوونکی او مخلص دی.

همدی موږ ته په اصل کې د ازادۍ خالق دی، موږ په خدايۍ، ورکړې او قدرتونو، ارادې او تنفيذ منلی دی.

د وسيلو له مخې خدای (جل جلاله) موږ ته د رزق او ودانولو اسباب مهيا کړي.

موږ يې په وکالت حکم کوو او دا کار د هغه له اجازې او خوښې پرته نه شو کولی، دغه خلافت تر ټاکل شوي اجل/اځل پورې وي..

يو ظالم که د ظلم تر هر حد پورې ورسېږي پخپل واک کې يوه ورځ، يو ساعت او يوه ثانيه هم د خدای (جل جلاله) له مشيئت او خوښې پرته نه شي پاتېدای، بلکې واکمن هله په اصلاح، تعمير او تغيير کې بريالی کېږي چې پښې يې ټينګې وي او د الهي قوانينو او خدايي موافقې پربنسټ حکم وکړي او د خپل بادار په نيابت ښه ترا کار وکړي.

کله چې له الهي قوانينو ووځي او د خپلو خواهشاتو پر اساس حکم کوي او د وکالت ټاپه ترې هېره وي او ځان ته د خلکو په برخليک ټاکلو کې د مطلق بادار ګومان کوي، د کرسۍ په لړزېدو يې عزت او لويي له منځه ځي ترې لوېږي او خلافت يې ختمېږي.. پايله يې لوېدل او شړل شي.

هغه څوک چې ځان ته له خپل خالق نه بغير د ازادوونکي تصور کوي، تېروتی دی، ځکه چې خپل وهمونه د واکمنۍ د کرسۍ پر نانځکو او ناوې پورې تړي.. خو په اصل کې دا د لوبې د ورقو سينګار دی. او داسې ازموينه ده چې خالق پرې د خپلو بندګانو د زړونو په هر حال خبر دی، خپل زړونه له الله (جل جلاله) پرته پر نورو ځيزونو پورې مه تړئ او پوی شئ چې يوازې الله (جل جلاله) ناوې ته پر څوکيو د کښېناستو توان ورکوي، بيا دا څوکۍ ترې اخلي او نورو ته يې ورکوي، همدا خدای (جل جلاله) د ولسونو يوازېنی ازادوونکی دی، همدی بېدياوې شنې کوي او ټکنالوژي هم د ده له لوري موږ ته د الهام او علم يوه برخه ده.. موږ په تشه کې هېڅ نه شو کولی.. بلکې شاوخوا ترې راتاوېږو او له شپې او ورځې سره مخامخېږو، همدا د عالمينو د رب قدرتونه دي.

لا اله الاّ هوَ

يوازې همدی واکمن دی

همدا د تقوا د توري هغه حقيقت دی چې الله تعالی خپلو ټولو نبيانو ته ورښودلی.

لا اله الاّ الله.

# د هنر او دين په اړه

هنر او دین دواړه د زړه پر سر په سیالۍ کې دي.. ډېر کله مذهبي کسان د غیرت له مخې هنر او هنرمندان کافر ګڼي.

خو ډېر کله دواړه سره خواږه شي او هنر د دین خادم وګرځي، محرابونه ورته رسموي چټونه ورته ښکلي کوي تمثالونه تورېي او ترانې ورته زمزمه کوي.

په مصر کې چې د ادیانو د تمدن ختیځ ګڼل کېږي، د هنر او دین یون یو دی.. هنر دین ته معابد، اهرامونه او تفریح ځایونه جوړ کړي سندرې او ترانې یې ورته جوړ کړې، د کاهنانو د رتبو او ښکلا څپه ګرځېدلی.

او د واتیکان په کلیساوو کې د مایکل انجلو او رافایل په هنري ګوتو پر دېوالونو او چټونو ښکلي رسمونه کېښل شوي او په اسلامي عصر کې عمارت او نقاشیو پرمختګ وکړ.

قرآن شاعران داسې وستایل چې دغه قوم په هر ناو کې سرګردانه ګرځي، او دوی لارورکي دي، خو نېک مؤمنان هم پکې شته:

﴿وَالشُّعَرَاءُ يَتَّبِعُهُمُ الْغَاوُونَ (٢٢٤) أَلَمْ تَرَ أَنَّهُمْ فِي كُلِّ وَادٍ يَهِيمُونَ (٢٢٥) وَأَنَّهُمْ يَقُولُونَ مَا لَا يَفْعَلُونَ (٢٢٦) إِلَّا الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَذَكَرُوا اللَّهَ كَثِيرًا وَانْتَصَرُوا مِنْ بَعْدِ مَا ظُلِمُوا وَسَيَعْلَمُ الَّذِينَ ظَلَمُوا أَيَّ مُنْقَلَبٍ يَنْقَلِبُونَ﴾(٢٢٧).

(او د شاعرانو پیروي لارورکي خلک کوي، ایا ته نه وینې چې هغوی په هر ناو کې سرګردانه ګرځي او دوی هغه څه وایي چې کوي یې نه، پرته له هغو کسانو چې ایمان یې راوړی او ښه کارونه یې وکړل او د الله (جل جلاله) یادښت یې ډېر وکړ او کله چې پرې ظلم وشو نو یوازې غچ یې واخیست. او ظالمانو ته به ژر معلومه شي چې برخلیک یې څه ډول دی). د الشعراء سورت ۲۲۴ _ ۲۲۷ ایتونه.

قرآن شعر او هنر په مطلق ډول نه دی رد کړی، بلکې هنرمندان یې پر دوو برخو وېشلي: د دروغو ډله او بله هغه ډله چې رښتیا او ایمان لري.. دوی ته یې پر هنر او ارزښتونو ثابت اصول ټاکلي.

بیا د سختګیرۍ او مبالغې کسان راغلل د رسم، تصویر او تورېلو له هنر سره یې جګړه اعلان کړه او په مطلق ډول یې حرام وګڼل، لکه څرنګه یې چې موسیقي، سندرې او نڅا ناروا اعلان کړل.

نن اورو ځینې وایي سینما مطلقه حرامه ده، لکه څرنګه چې سینمایي کار او تلوېزیون حرام دي، دا ټول د سختګیرۍ، سخت دریځۍ او تعصب څپې دي چې په قرآن او عقیده کې هېڅ بنسټ نه لري.

ټولو ته نبوي سیرت معلوم دی چې نبي علیه الصلاة والسلام د شاعرې خنساء شعر ته غوږ نیولی هغه یې تکرار کړی او ستایلی دی.

همدارنګه قرآن د ټیټ هنر او لوړ هنر ترمنځ توپیر کړی، چې همدا اصل د هنر پر ټولو فروعو تطبیقېږي.

په موسیقۍ کې سیمفوني موسیقي ده چې وجدان پاروي، جاز موسیقي غریزې پاروي، په ډرامه او سینما کې د عبرت، حکمت او پند خبرې وي، د ټوکو او شوخۍ ډرامې وي.. په سینما کې تاریخي فلمونه وي، علمي فلمونه وي، داسې لویه ډرامه هم وي چې وګړو ته لارښوونه کوي هغه فلمونه هم شته چې وګړي فحاشۍ او پورنوګرافۍ ته لمسوي.

په سندرو کې ښکلې قصیدې او شعرونه وي، خو بازاري بربنډې سندرې هم وي. د رسم، تصویر او توږلو تحریم په دې برخه کې پر ناسم قیاس د نبوي احادیثو د قیاس له کبله دی، نبي انځور او تمثالونه ځکه حرام کړي چې عبادت یې کېده او په کورونو کې د خدایۍ لپاره اېښودل شوي وو. خو اوس هېڅوک د انځور عبادت نه کوي او نه هم مجسمې ته سجده کوي.

راځئ په طبیعت کې د الله (جل جلاله) د خلقت پر نښو غور وکړو.

ایا خدای (جل جلاله) داسې مرغان نه دي پیدا کړي چې چونېږي، داسې مرغۍ چې چغېږي، او داسې اسان چې نڅا کوي؟

پتنګ ته یې څومره ښکلي وزر ورکړي، کبان یې په څومره ظرافت جوړ کړي؟

راځئ وپوښتو:

د شکسپیر ډرامې به پر موږ څه وکړي او یا د بتهوفن سیمفوني اورېدل به څه راکړي یا د بالي لیدل به مو ترکومه بوځي؟

ایا دغه هنرونه به مو لوړ کړي او که ټیټ؟

ایا په ذهنونو کې به مو شهواني غریزې راوپاروي او که ملائکي خیالونه او الهي معارف؟

لوړ هنر په زړه کې د ښکلا لپاره د عبادت ځای ودانوي.

ایا زموږ رب له ښکلا، کمال حق او خیر پرته نور څه دی.

قرآن د لوړ شان او شوکت او سپېڅلتیا سربېره، د یوسف او د عزیز د ښځې له کیسې نه موږ ته یو جنسي اړخ بیانوي، څرنګه د عزیز ښځې دروازې بندې کړې او وویل: ((هله راشه ستا (د نفساني هیلې د ترسره کولو لپاره) یمه او هغه ښځه د هغه خواته ورمخکې شوه او یوسف به هم د هغې خواته ورمخکې شوی وای که د خپل ربّ دلیل یې نه وای لیدلای)) او څرنګه دوی د یوسف کمیس د شا له خوا څیرې شوی ولید او پوی شول چې هغې ښځې چې یوسف د هغې په کور کې و له یوسف څخه یې د خپلې (نفساني) هیلې د ترسره کولو غوښتنه کړې ده. خو دا د عبرت بربښنده نظر دی چې قرآن پکې د تفصیل او تجسید وړاندې کولو هوډ نه دی کړی، دا یوه داسې بېلګه او مقیاس دی چې په مټ یې پوهېږو کیسې جنسي اړخ راخیستی او په تېزه اشاره یې له تفصیل او تجسید پرته قصد پارونه نه ده، چې دا له سپېڅلي هدف او د اثر له ښکلا سره په ټکر کې هم نه ده.

له دې پوهېږو چې د خدای (جل جلاله) په کتاب کې له ایاتونو او په کائناتو کې د نښو نښانو هنر او ښکلا لکه علم او فکر غوندې انساني ستایل شوی او لوی نشاط دی او دا په ادم او د هغه په نسل کې د خدایي اثر یوه نښه ده، داسې یوه روحي نښه چې له خټې جوړ شوي مخلوق ته د پرښتو د سجدو او د کائناتو د تسخیر غوښتنه کوي.

﴿إِنِّي خَالِقٌ بَشَرَاً مِنْ طِينٍ، فإِذَا سَوَّيْتُهُ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِنْ رُوحِي فَقَعُوا لَهُ سَاجِدِينَ﴾. (هغه وخت یاد کړه چې ستا رب پرښتو ته وویل: زه له خټو نه د بشر پیدا کوونکی یم. نو کله چې مې هغه چمتو کړ او په هغه کې مې له خپل روح څخه پو کړ، نو په سجده ورته پرېوځئ) د ص سورت ۷۱ _ ۷۲ ایتونه.

خو مبالغه کوونکي او هغه سخت دریځي چې په مطلق ډول د ټولو هنرونو تحریم غواړي، هغه کسان دي چې غواړي د الله (جل جلاله) نور پخپلو خولو مړ کړی.

﴿وَيَأْبَى اللهُ إلاَّ أَنْ يُتِمَّ نُورَهُ وَلَوْ كَرِهَ الْكَافِرُونَ﴾. (او الله (جل جلاله) دا نه پرېږدي څو الله (جل جلاله) خپل نور پوره کوي که څه هم کافران دا کار نه خوښوي). د التوبة سورت ۳۲ ایت.

دوی د خدای (جل جلاله) له نعمت څخه رښتیا هم منکر دي.

یا شاید د غیرت له هغې دایرې څخه رڼا وي غیرت وي چې هنرمندان پکې د عامو خلکو د احتیاط له کبله درېږي. یا شاید فتنه وي چې هنرمند ته غرور ورکوي او د پرښتو له کتاره د شیطانانو وسوسې ته راښکته کېږي. د رڼا په دایره کې له هغو کسانو پرته چې ستا رب یې وساتي، نور ټول ولاړ کسان په سردردۍ او ډېره گمراهۍ اخته کېږي.

خو د هنرمند قضیه او عیبونه د هنر او مقام له قضیې ورهاخوا بله قضیه ده. انسان د حجري پېر له لومړیو څخه رسم او تصویر پیل کړی او هنر یې د انسانیت نښه وه او لا به هم وي.

او پر هنرمند چې هرڅومره د خواهشاتو څپې ورشي تاسو یې گورئ چې یو ساعت قلم را واخلي او پر یوه متواضع او نرم زړي او زړه سواند راهب بدل شي.

په دې کې کومه حیرانتیا نشته چې له یوې سرچینې د دین او هنر مرسته کوي، داسې سرچینه چې ټولې ظاهري بڼې یې ورباندې رڼا وي، داسې سرچینه چې بېدیاگانې یې په مڅ زرغونې شي، ژوند ښکلی شي او ستوري وځلېږي، د نوي زیږېدلي پر شونډو موسکا خپره شي او پالبین مرغه پکې وچغېږي.

هنرمند او مذهبي انسان دواړه له یوه لاس نیسي.

هنرمند هغه مهال لوېږي چې وانگیري کوم څه چې راوړي له خپله ځانه او خپل انده یې راوړي.. همدا د لارورکۍ (گمراهۍ) پیلامه ده.

# مونږ ټول په یوه بېړۍ کې یو

هغه غل چې د سترګو په رپ او غفلت کې غلا کوي، معمولاً داسې سوچ کوي چې ګني په ذکاوت یو عمل ترسره کوي.. لکه څرنګه چې فرصت طلب د نورو پر اوږدو بار او رشوت او له فرصته په ګټه اخیستو او اختلاس سره

گومان کوي، دی یو ډېر ماهر او له نورو توانمند انسان دی.. همداشان هغه چې ترافیکي اشاره نه مراعاتوي یا د واټ پر سر غورېږ جوړوي یا د خپل کور خځلې او کثافات د گاونډي د دروازې مخې ته غورځوي یا له مالیې تښتي، داسې انگیري چې گني چلباز او حیله گر دی او کولی شي د غافلانو په ټولنه کې د زمري ونډه یوسي.

که دوی د خپلو اعمالو پای ته تر وروستي بریده تعقیب کړي او هغه دښمنۍ هم وگوري چې ورسره مخامخ شوي، نو ناڅاپه به له دې سره مخامخ شي چې د دوی اعمال تل مرتد شوي، هغه کسان چې له ترافیکي اشارو تېرېږي په پای کې له ساه نیولي حالت او داسې پېښو سره مخامخېدونکي دي چې ارومرو به د ژوند یوڅو ورځې یا میاشتې په روغتون کې تېروي .. او هغه څوک چې په سمندر کې متیازې کوي همدی به دا اوبه څښي.. او بې موټره کسان ټوله ملامتیا د موټرو پر څښتنو او نورو ور اچوي.. حشره وژونکي درمل مضرې حشرې او بې ضرره حشرې دواړې وژني، په سمندر کې کب هم ترې خوندي نه دی او پر ونه مېوه، او آن د شیدو ورکوونکو شیدو ته رسېږي او آن د هغو کسانو ځیگر او لاسونو ته لاره مومي چې پخپله یې دغه درمل پاشلي او لاسونه یې شل کېږي او یا له منځه ځي.

شر او فساد دواړه یوه دوره لري چې پر هر تلونکي خپل ضررونه وېشي او دا تر هغو دوام کوي چې شرار ته یې هم ضرر ورسېږي..

له دوی هېڅوک هم خوندي نه دی..

موږ ټول په یوه بېړۍ کې یو.

هغه څوک چې بېړۍ سورۍ کوي او هڅه کوي یوه دړه یا یو مېخ ترې غلا کړي، برخلیک به یې له نورو سره یوځای په ډوبېدو تمامېږي. داسې نه وایي چې د غافلو له ټولنې مې خپله برخه واخیسته.. په حقیقت کې همدی تر ټولو ډېر غافل او کم عقل دی. هېڅکله به خلاص نه شي.

خو تر ټولو هوښیار ریښتینی پر مستقیمه لار تلونکی فاضل او امانتدار دی.

که مجرم پوی شي چې جرم یې ورته رسېږي، نو په جرم کې به زړه- نازړه شي، خو لنډپارۍ یې لید دومره محدود کړی چې له خپلې پزې وړاندې نور څه نه ویني او گومان کوي چې حق تښتېدونکی دی.

اوس نړۍ سره یوکلی شوې، سره نژدې شوې او په یوه پیاله کې د یوې نقطې په شان ده. د نیوادا په صحرا کې اتوم بم چوول کېږي خو په فلپین کې هوا بدلولی شي او زهري لوخړې یې د استرالیا پر وگړو ناوړه اغېز کولی شي او په جاپان کې د مور په گېډو کې ماشومان وژلی شي.. نو اوس ټول هوښیار سیاستوال پر دې سلا شوي چې اتومي بمونه دې نه چوول کېږي او د اتومي وسلو کارول دې محدود شی او د یوه سوله ییز ژوند غوښتنه کوي؛ ځکه چې جگړه غالب او مغلوب دواړه له منځه وړي او له جگړې هېڅوک هم خوندي نه پاتې کېږي.

د نشه يي توکو سوداګر له خپل غنيمت نه روغې پښې نه شي تښتېدلی؛ ځکه ده د نشيانو داسې يوه ټولنه جوړه کړې ده چې همدی په دې ټولنه کې ژوند کوي، راکړه ورکړه ورسره لري، ژر ده که نن نه وي سبا يا بل سبا خو يې ارومرو شر د ده تر کوره هم ورسېږي، که دی ترې خوندي شي نو کور او اولاد خو يې د خونديتوب لاره نه لري.

نړۍ د علم، مصنوعي سپوږمکيو او بې سيمه ټکنالوژۍ، ټيلکس او تلوېزيون له برکته ډېره کوچنۍ شوې ده.. د يوې خونې او يوې کورنۍ په څېر شوې ده، چې يوازې د تڼيو په کېکاږلو سره يو کس پکې بل ليدلی او خبرې ورسره کولی شي.

دا چې موږ ټول د يوې بېړۍ سپاره يو، مجرم به د جرم له تور داغ سره چېرې وتښتي.

دا به کله درک او ځان ښه ورباندې پوی کړو؟!!!

که مو درک او ځانونه سم ورباندې پوی کړل، نو ناغيړي، رشوت او ناورينونه به مو له هېواده ورک شي او په څو مياشتو کې به د يوه اروپايي وګړي کچې ته ورسېږو.

# خدای (جل جلاله) پېژندونکی څوک دی؟

د خدای (جل جلاله) پېژندل له هغه نه په وېرېدو کې دي او له هغه نه وېره لرل په اطاعت کې دي، څوک چې د خپل رب اطاعت نه کوي هېڅکله به يې ونه پېژني آن که کتابونه، مجلې او امبار امبار مقالې هم وليکي او په الهي معرفت کې نظريې هم چاپ کړي.

ابليس يو فيلسوف او بحث خوښوونکی عالم و چې پرښتې يې علم او فلسفې ته حيرانې وې، آن دا چې په علم او عبادت کې د مځکښې له کبله د عبادت کوونکو په طاووس مشهور شوی و اويا زره کلونه يې عبادت وکړ، فلسفه يې مخته بوتله او بحثونه يې وکړل او پرښتې به يې شاوخوا راټولې وې د ده خبرې به يې اورېدې او خوښولې.. خو الله (جل جلاله) پوهېده چې دغه چلباز او کبرجن مخلوق چې په الهي معرفت کې کوم لکچرونه ورکوي، تر نورو مخلوقاتو لږ معرفت لري او د خولې خبره يې د زړه خبره نه ده.

د معرفت او جهالت غوره دليل د امر او نهی پر وخت کړه وړه دي (هغه شېبه چې يو کار له طبعې او خواهش سره په ټکر کې راشي او مخلوق خپل ځان په يوه ګران غوراوي کې وګوري) همدا کار هغه مهال وشو چې ابليس ته د الله تعالی له لوري آدم ته د سجدې کولو امر راغی، خو ابليس کبر وکړ او ځان يې لوړ وګاڼه او هغه څه يې په يوه لحظه کې هېر شول چې څو شېبې وړاندې يې په اړه وينا کوله.. د خپل لوی رب مقام او عظمت يې هېر کړ او دا يې هم هېر و چې د سجدې امر ورته شوی او چا ته؟؟ له اوره د مخلوق له خوا له خټې جوړ شوي بشر ته سجده.. د خپل آمر امر يې ونه مانه او له خپل رب سره يې بحث پيل کړ. ته وا دی هم د هغه په شان رب دی.

﴿قَالَ أَنَا خَيرٌ مِنْهُ خَلَقْتَنِي مِنْ نَّارٍ وَخَلَقْتَهُ مِنْ طِينٍ﴾. (ابليس وويل: زه له هغه څخه غوره يم ځکه زه دې له اوره پيدا کړی يم او هغه دې له خټې پيدا کړی دی) ص ٧٦ ايت.

﴿قَالَ أَأَسْجُدُ لِمَنْ خَلَقتَ طِيناً﴾. (ابليس وويل: ايا زه هغه چا ته سجده وکړم چې هغه تا له خټې څخه پيدا کړی دی؟) الإسراء ٦١ ايت.

ابليس له اجهل جاهلانو سره ولوېد، ابليس هغه مهال خپل رب ونه پېژانده چې بحث او مجادله يې ورسره کوله او د هغه امر يې ونه مانه. .

له ابليس سره د ده هغو نظريو څه ګټه ونه کړه چې پرښتې ورته حيرانې وې او ځان يې د عارفانو سردار ګاڼه. او د نن ابليس د معاصر انسان په کړو وړو او فکر کې د کبرجن عقل يوه بېلګه ده.

ابليس د لوېديځې فلسفې په پرمختللي عقل کې ځای نيولی.

همدارنګه د مادي ايډيالوژيو فکري ترهګری ځای ناستی دی.

د يهودو توکم پالنه ده.

په نازيانو کې د شنې وينې سردار دی.

د پرولیتاریا (د تاریخ جوړوونکو او راتلونکي د پیلامې) غوره شوي جنس ترهه ده.

د نیتچه په اند د سوپرمن فکر دی.

دا ټول جهل او کبر دی، که څه هم د علم، فلسفې او فکر په څېر په زړه رابښکونکو نومونو ونومول شي.

او ددغو خلکو په پرتله حیوان ډېر علم لري.

پیشو هغه څه خوري چې مخې ته یې واچول شي او ستا په پښو کې میاو میاو کوي، خو کله چې ستا سترګې بلې خوا ته شي، له وخته په ګټې اخیستو د غوښې یوه ټوټه وتښتوي او د وره تر شا یې وخوري.. ځکه پیشو په شریعت او حلال او حرام خبره ده او د مافیا د مشر په پرتله ډېر علم لري ځکه مافیایي مشر په لیزري وړانګو وژنه کوي او خزانې په الکتروني وسایلو پرانیزي.

ساده بزګر چې تر کعبې په ژړا تاوېږي پوهېږي چې الله (جل جلاله) لوی دی او په الهي علومو کې د متخصص ډاکټر سوربون پرتله ډېر او ژور علم لري.

او ما له شک پرته د خپل پلار په پرتله په الهي معارفو خپل سر ډېر ډک کړی دی.. خو یوه شبېه هم شکمن نه یم چې هغه زما په پرتله خدای (جل جلاله) ډېر پېژندلی او د معرفت تر اسمانه یې ځان رسولی دی، خو زه یې لا پر ځمکه یم.

زما پلار په اطاعت تقوا او ژمنتیا کې له ما سبقت کړی دی.

لکه څرنګه مې چې د مقالې په اول کې وویل، د خدای (جل جلاله) پېژندل د هغه په وېره کې دي او د هغه وېره په اطاعت کې وي او چا چې د خپل رب اطاعت ونه کړ هغه نه شي پېژندلی، آن که په ټوکونو ټوکونو کتابونه ولیکي، مقالې وکاږي او ښکلې نظریې چاپ کړي.

انبیاء په معجزو او خارق العاده کارونو نبیان نه وو، بلکې پخپل استقامت او اخلاقو نبیان وو.

الله (جل جلاله) محمد (صلی الله علیه وسلم) ته دا نه وو ویلي چې ((له شک پرته ته یو لوی عالِم یې)) بلکې ورته ویلي یې دي ((وَ إِنَّکَ لَعلَى خُلُقٍ عَظِيمٍ﴾. (او بې شکه ته د اخلاقو په لوی پړاو کې یې). د القلم سورت ۴ ایت.

راڅېوتین به د ناروغانو درملنه کوله او غیب وړاندوینه به یې کوله، خارق العاده کارونه یې کول خو په اصل کې د خپل عصر تر ټولو لوی فاسق و.

مسیخ دجال به راشي مړي به ژوندي کړي، باران به ووروي، ناروغان به روغ کړي عجیب او خارق العاده کارونه به وکړي خو معجزې به یې له دجالت پرته نور څه زیات نه کړي.

نن څومره ډېر علماء له ابلیسانو سره یوځای دي.

ډېر (په ظاهر) جاهلان د عارفانو سرداران دي.

چا چې خپل رب ونه پېژانده، پر خپل ځان، خپل جهل او خپله نیمگړتیا به ژړا ونه کړي.

همدا ده چې زموږ رب د آخرت په اړه وایي (خَافِضَةٌ رَّافِعَة)، (هغه به کښته کوونکې او پورته کوونکې وي). ځکه ډېر هغه کسان به لوړ کړي چې موږ ټیټ گڼلي وو او ډېر هغه به ټیټ کړي چې موږ لوړ گڼلي وو..

له خدای سره له هغه چا پرته چې دی یې پېژندلی بل څوک نشته.

عارفان هغه کسان نه دي چې ډیگرۍ او شهادتنامې ولري، بلکې هغه دي چې ښه کړه وړه، خشوع او تقوا ولري چې دا ډول کسان کم دي دوی نه ډول وهونکی لري نه سورنۍ غږوونکی.. دوی په دنیا کې بیرغ او ډله نه لري.. ستا کړه وړه ستا پر علم شاهد دي نه پر دیپلوم او بکالوریوس او یا تقدیري ستاینلیک او یا د کمال نښان چې ستا پر سینه ځلېږي..

دا ټولې ابلیسي وړتیاوې دي چې په شکبه دنیا کې گټه رسوي، خو د حق په وخت کې هېڅ وزن نه لري.

خو عارفان هغه دي چې په حق پوی وي، دوی ساده‌گان او د استقامت او ټینگ ضمیر لرونکي څښتنان دي، چې تل یې د کتار په وروستۍ برخه کې وینې.. کله چې حاضر شي نه پېژندل کېږي او چې غیب شي نه ورکېږي.. خو چې مړه شي تر شا یې هېڅوک هم نه ځي.

دوی چې دفن شي اسمانونه او ځمکه ورباندې ژاړي او پرښتې یې بدرگه کوي. خدای (جل جلاله) دې موږ هم د دوی په ډله کې راولي.

که د دوی په ډله کې نه شو، نو له دوی وروسته مو د دوی خادمان او د دوی پر دسترخوان ناست کسان کړې.

# له تیارې نه رڼا ته وتل

الله تعالی په قرآن کې فرمایي: ﴿هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيكُمْ وَ مَلَائِكَتُه لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ وَكَانَ بِالْمُؤمِنِينَ رَحِيماً﴾. (دی هغه ذات دی چې پر تاسې درود استوي او پرښتې یې هم، څو تاسې له تیارو څخه روښنایۍ ته راوباسي. او (الله) (جل جلاله) پر مسلمانانو ډېر لوروونکی دی). د الاحزاب سورت ۴۳ ایت.

یعنې الله (جل جلاله) او پرښتې يې پر مؤمنانو درود وايي (یعنې تر رحمت او عنايت لاندې يې دي) چې له تيارو يې رڼا ته وباسي.

او پوښتنه دا ده چې له تيارو نه رڼا ته دغه وتل څرنګه ترسره کېږي او زموږ شاوخوا يې نښې څه دي چې خلک پکې اوړي را اوړي.

موږ يې له کفر نه ايمان او له جهل نه علم او له کم عقلۍ نه حکمت او له ګمراهۍ نه هدايت او له حيوانيت نه انسانيت له شهوانيت نه تعقل او له تعقل نه د هرڅه ليدو او له ګناه نه توبې او له توبې نه پاکوالي او له ظلم نه همکارۍ او مېړانې ته د خلکو په تحولاتو کې وينو.. دا ټول له تيارې نه رڼا ته يون دی.

څرنګه يې په ځان او په خلکو کې وينو.

او زموږ تجربې څه راته وايي.

زه يې وينم چې تل د کړاو او درد له لارې راځي.

خطبې او وعظونه او کتابونه انسان نه شي جوړولی بلکې نبي پخپل بشپړ واک او ځواک سره يو انسان ته هدايت نه شي کولی او نه هم يو نفس له تيارې نه نور ته د خدای (جل جلاله) له رضا پرته رايستلی شي.

﴿إِنَّكَ لاَ تَهْدِي مَنْ أَحْبَبْتَ وَلَكِنَّ اللهَ يَهْدِي مَنْ يَشَآءُ﴾. (ته هرومرو داسې نه شې کولی چې څوک دې خوښ وي لاربښوونه ورته وکړې، بلکې د الله (جل جلاله) چې چا ته خوښه شي لاربښوونه ورته کوي). سورت القصص ٥٦.

دا يوازې مُبَلّغ او زېرى ورکوونکی دی.

هرڅه چې په وعظونو، خطبو او کتابونو کې ويل کېږي يوازې ابلاغ او اِعلام دی د خدای (جل جلاله) له خوښې پرته څوک نه هدايت او نه هم بدلولی شي.

په دې وخت کې دغه خوښه د نفس له داخل نه د داسې اسبابو له مخې کار کوي، چې کله کله په ظاهره مادي وي.

د طه حسين په څېر د يوه لوی اديب د ځلېدو شاهدان يو چې د سترګو د ليد له منځه تللو او تيارې سره يې تړاو لري.

موږ وليدل چې څرنګه دغه تياره د هغه داخلي ربړونې راوپارولې چې په پای کې يې بصيرت پرانيستل شو او رڼا يې په قلم کې ثابته شوه..

همداشان د تيارې له خېټې رڼا راووتله.

تر ټولو ډېر ځورېدلي کسان نبيان دي، ټول له ناروغۍ، بې وزلۍ، يتيموالي، تنګ لاسۍ، قتل تبعيد او د دښمنانو له لوري له دروغو کړېدلي، د دوی په شان وليان، صالح کسان، حکيمان، شريف مشران او د هر عصر د حق کلمې خاوندان هم دي.

ټولو ربړونې ليدلې خو رڼاګانې يې ځلېدلې دي.

له تيارې نه رڼا ته دغه وتل له جراحۍ او غوښې څېرلو او جنين رايستلو سره ځومره ورته دي چې د رِحم له تيارو نه جنين پکې د درد، چيغو او خوږو له لارې راوځي.

همدا ده چې ايت راته وايي دغه دسترخوان له دردونو ډک دی، خو د خدای (جل جلاله) او د هغه د پرښتو درودونه ورسره مل دي:

﴿هُوَ الَّذِي يُصَلِّي عَلَيكُمْ وَ مَلاَئِكَتُهِ لِيُخْرِجَكُمْ مِنَ الظُّلُمَاتِ إِلَى النُّورِ﴾. الاحزاب ۴۳.

دا هغه رحمن دی چې په عذاب سره رحمت کوي.. او رحمت يې هر شي ته رسېدلی.. چې موږ ته د آخرت او اور په اړه وو‌ايي:

﴿بَاطِنُهُ فِيهِ الرَّحْمَةُ وَ ظَاهِرُهُ مِنْ قِبَلِهِ العَذَابُ﴾. (د هغه د ننه به رحمت وي او د باندې يې عذاب وي). د الحديد سورت ۱۳ ايت.

هر يو د خدای (جل جلاله) لوري ته له دنيا نه آخرت ته تلونکی، له تيارې نه رڼا ته.. د دې يون په لړ کې درېدل نشته..

داسې يون چې له کړاو او درد څخه ډک دی:

﴿يَا أَيُّها الإِنْسَانُ إِنَّکَ كَادِحٌ إِلَى رَبِّکَ كَدْحاً فَمُلاَقِيهِ﴾. (ای انسانه! بې شکه پر هغه لار چې د خپل رب خوا ته ځې ډېرې ستونزې ګالې نو په پای کې له هغه سره مخامخ کېدونکی يې). د الانشقاق سورت ٦ ايت.

انسان په مطلق ډول.. مؤمن او کافر دواړه په هڅه او خدای (جل جلاله) ته په هجرت کې دی.

ځينې په دې هجرت پوهېږي او پرې خوشحاله کېږي او په دردونو يې خوښېږي چې همدا مؤمنان دي او ځينې نور نه پرې پوهېږي او ګومان کوي چې پخپل عقل سره هڅه کوي، دغه کسان زمانې ته ښکنځل کوي او نه پوهېږي چې له درد پرته هوساينه راځي او مثمره پايله لري.. دغه کافران دي.. دوی په هجرت کې پر لکړې او متروکې تکيه کوي.. پرښتې يې شاوخوا نه راغونډېږي بلکې شيطانان په بيړه ورسره ځي.

خو مؤمنان پخپله هڅه کې منډې وهي او د ليدو عجله لري او د خپل رب په رڼاوو نوراني کېږي او پرښتې پرې نازلېږي:

﴿إِنَّ الذينَ قالوا رَبُّنَا اللهُ ثُمَّ استَقَامُوا تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِم المَلائِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلاَ تَحْزَنُوا وَ أَبْشِرُوا بِالجَنَّةِ التي كُنْتُمْ تُوعَدُونَ﴾. (بې شکه هغه کسان چې ويې ويل: الله (جل جلاله) زموږ رب دی او بیا (پرخپل ایمان) ټینګ ودرېدل، دوی ته به پرښتې ولېږل شي (او ورته به ووايي:) مه وېرېږئ او مه خپه کېږئ او په هغه جنت خوشاله شئ چې تاسې ته يې ژمنه شوې وه). د فصلت سورت ۳۰ ایت.

په بل ایت کې فرمايي:

﴿لَهُمْ البُشْرَى فى الحَيَاةِ الدُّنْيَا وفي الآخِرَةِ﴾. (دوی ته (هم) د نړۍ په دې ژوند کې او (هم) په اخرت کې زېری دی). د يونس سورت ٦۴ ایت.

دا د كراماتو په څرګندېدو او د خاصو مؤمنانو لپاره د پرښتو پر خبرو د قرآن اعتراف دی. هڅاند، صبر او استقامت لرونکی چې دا زکريا دی:

﴿فَنَادَتْهُ المَلاَئِكَةُ وَهُوَ قَائِمٌ يُصَلِّي في المُحْرَابِ﴾. (نو په داسې حال کې چې زکريا په محراب کې پر لمانځه ولاړ و پرښتو پرې داسې غږ وکړ..) د ال عمران سورت ۳۹ ایت.

او مريم.. د موسی مور چې پرښتو په ټوکرۍ کې رزق ورته راوړه.

﴿وَ أَوْحَينَا إِلَى أُمِّ مُوسَى أَنْ أَرْضِعِيهِ فإِذَا خِفْتِ عَلَيْهِ فَأَلقِيهِ في اليَمِّ وَلاَ تَخَافِي وَلَا تَحْزَنِي إِنَّا رَآدُّوهُ إِلَيْكِ وَجَاعِلُوهُ مِنَ المُرْسَلِينَ﴾. (او د موسی مور ته مو الهام وکړ: تی ورته ورکړه، بيا که د هغه له کبله ته په وېره کې شوې نو په سيند کې يې واچوه، مه وېرېږه او مه خپه کېږه. بې شکه چې موږ تا ته د هغه بېرته راوستونکي يو). د القصص سورت ۷ ایت.

دا له مؤمنانو سره د دوی په عذاب کې د الله (جل جلاله) او د هغه د پرښتو خبرې او ښه مناجات او خاص زېري دي.

دا له تيارو نه ړنا ته د د دغه يون ټينګار دی چې دغه يون له کړاوونو ډک دی.. او څرنګه ړنا تل له تيارې له دردونو او پرهرونو سره راوځي.

بلکې ځينې وخت پرهر بدني ټپ وي.

زما په ياد دي چې په ژوند کې ډېر ټيپونه ليدلي چې دردونو يې د سوچ او تفکير له ځانګړتيا او زما له خبرې او ليکنې سره تړاو درلود.

او د بندګانو په اصلاح کې د خدای (جل جلاله) لارې محدودې نه دي.

هېڅوک نه شي کولی چې د هغه د رحمت اندازه معلومه کړي او يا يې فضيلت کچ کړي، خو هغه سوچ ثمره ورکولی شي چې ... بې وزلي او ناروغي، درد او ځور.. غالباً د هغه د رحمت وسيله ګرځي.

ځوک پر دې پوهېږي نو له الله (جل جلاله) سره د کار په سپارلو، تسلیم او د ادب په التزام پوهېږي او په منفي او مخنیوي اعتراض نه کوي، بلکې په هره ورکه او یا نیونه د خپل رب شکر وباسي او ان ځینې وخت له عطا وېره لري چې ګني فتنه ترې راپورته نه شي.

همدا د هغه الهي تدبیر ځینې پټ رازونه دي چې عارفان ترې وېرېږي ـ خدای (جل جلاله) دې موږ هم د دوی ملګري کړي له تیارو مو راوباسي.

ایا تل رڼا له اوره نه راوځي.

ایا رڼا د لمر له هغه باطني اوره نه راوځي چې هلاکوي یې او له منځه یې وړي.. ته وا ټولې وړانګې موږ ته له هغې یوې باطني چیغې سره راځي چې فنا کېږي او له منځه ځي ترڅو موږ ژوند وکړو او بیا د زاني د رجم شریعت د وروستۍ حیلې په شان ښکاره نه شي.

د دغه شریعت په کار کې عجیبه دا ده چې تنفیذول یې د زاني له اعتراف او رضایت او اختیار پرته نه راځي؛ ځکه چې الله (جل جلاله) پکې څلور ګواهان شرط کړي، داسې شاهدي به ورکوي چې دوی (دخول) لیدلی او یو عضو یې په بل عضو کې د ننوتلو په حال کې لیدلی چې دا کار ناشونی دی. نو عملي کول یې د زاني له اعتراف او اختیار پرته ناشوني دي چې زاني پکې خپل ځان تسلیم کړي او آن دغه اعتراف کې نبي له احتیاطه کار اخیستی، کله چې زاني ورته وړاندې شو او پر خپل ځان یې شاهدي وویله خو هغه ورته وویل.. شاید لېونی شوی یاست.. ترڅو هغه ته د خوشي کېدو فرصت ورکړي خو زاني ورته وویل.. بلکې زه عاقل یم، نو زړه سواندي نبي ورته وویل: شاید مچې کړې دې وي چې دا زنا نه ده.. زاني وویل.. بلکې دخول وشو.. ورته ویې ویل.. شاید دا کار نه وي شوی.. زاني وویل.. بلکې دخول وشو.

په دې حالت کې نبي هغه رجم ته وسپاره.. دغه سړي د خپل بدن د حاکم له سپکاوي سره مخامخ شو او پر ځان یې شاهدي وویله چې دغه جسم یې په یوه شېبه کې عبادت کړی.. او غواړي دغه جسم مات کړي ترڅو ترې خلاص شي او پاک شي.

دغه د لوړې ویښتیا حالت دی، همدا ده چې نبي صلی الله علیه وسلم د (ماعز) په نوم د یوه رجم شوي زاني په اړه چې عمر رضي الله عنه یې د وینې تویېدو په اړه اف کړل، وایي: ((په خدای (جل جلاله) قسم که د دغه سړي توبه د ځمکې پر اهل ووېشله شي، نو بس به یې شي)).

دا  د باطني رڼا حالت دی چې د مادي پوښ په ماتولو سره ځان خلاصوي.

دا ذاتي سزا او ذاتي پاکوالی دی چې د الله (جل جلاله) او د هغه د پرښتو درود پرې ورېږي؛ ځکه چې په لوړه بیه یې رڼا رایستل غواړي.

پوښتنه دا ده چې له قرآن نه په دُرو د وهلو له ایت راتلو سره د رجم ایت ولې پورته شو.

ايا دا د توبې لپاره هڅونه وه او د پټ زړه سوي د دروازې پرانيستل وو.

او که د خدای (جل جلاله) له لوري داسې علم و چې د زنا عصر به راځي پر خلکو او ولسونو به تیارې خپرېږي فسق او فجور به تر هغو پورې پراخه کېږي ترڅو يو عادي اعلان وګرځي او په راډيو او تلوېزيون کې به ورځني پروګرامونه وګرځي چې په دې حالت کې به د فساد علاج نه موندل کېږي، مګر دا چې لکه د عاد، ثمود او لوط او فيل قومونو لپاره يو عام رجم رامنځ ته شي.. او يا د قيامت په راتلو سره د ټولې نړۍ ويجاړي راشي.

غواړم پوی يې کړم چې دا د توحيد پر امت زړه سوی دی او حمد هغه خدای (جل جلاله) لره دی چې په عذاب کې يې خپل نعمت پټ ساتلی او خپل رحمت يې په غوسه کې پټ کړی او موږ يې پوهولي يو چې هغه په رحمن او رحيم نومونو وستايو او په پاکو او لوړو نومو يې وبولو، داسې نومونه چې زړه پرې ټکان خوري، لکه مذل (خواروونکی)، قابض (د بندګانو د زړونو تنګوونکی او روح قبضوونکی)، خافض (ښکته کوونکی)، منتقم (بدله اخيستونکی)، جبار (د ټولو چارو سمونکی) او مُمِيت (مړ کوونکی).

پاکي خدای (جل جلاله) لره ده.. پر ځان يې رحمت لازم کړی.

وايي.. زما له رحمت زما غوسه مخکې شوې.

وايي.. زما رحمت هرشي ته شامل دی.

خپل وروستي نبي ته وايي:

﴿وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ﴾. (او اې رسوله ته مو نه لېږلې خو د کائناتو لپاره لورونه [موږ د ټولو مخلوقاتو لپاره ته رحمت لېږلی يې]). د سورت الانبياء ۱۰۷ ايت.

خپلو پرښتو ته يې په شپه او ورځ کې زموږ لپاره د استغفار الهام کړی همده او پرښتو يې پر موږ مؤمنانو درود ويلی ترڅو موږ له خپلو تيارو زموږ رڼاوو ته راوباسي.

په آخرت کې د ژغورل شويو په اړه وايي:

﴿نُورُهُمْ يَسْعَى بَيْنَ أَيْدِيهِمْ وَبِأَيْمَانِهِمْ﴾. (د دوی رڼا به د دوی په وړاندې او د دوی په ښی خوا کې ځلېږي). د سورت تحريم ۸ ايت.

حمد د عالمينو هغه پالونکي لره چې پر موږ يې نعمت کړی. حمد هغه ذات لره چې عذاب يې پيدا کړی.

موږ ښښنه، مغفرت او استقامت ترې غواړو.

# لړلیک

***دا کتاب......................................................................3***

***د لیکوال لنډه پېژندنه ..................................................................4***

تاریخي فکر يې ..................................................................4

تورونه او اعتراف ........................................................ 5
ستونزې ................................................................ 6
مړینه .................................................................. 6
*د ژباړن لنډه پېژندنه* ................................................... *7*
د ژباړې تجربه او خطاطي .............................................. 7
علمي او ادبي اثار: ...................................................... 8
***چاود ته نژدې شوی بم!*** ............................................. ***9***
***خدايي خلک او شيطاني خلک!*** ...................................... ***12***
***اسلامي حکم.. کله ... او څرنګه؟*** ................................ ***17***
***نړيوال کمونيزم.. ترکله؟*** ........................................... ***23***
***ولې ځانونه وژني؟*** ................................................. ***26***
***ولې ناورينونه؟*** .................................................... ***29***
***توري تېيت مه ګڼئ*** ................................................ ***32***
***علمي جَهل*** .......................................................... ***38***
***د ولسونو د ازادولو لوبه*** ........................................... ***41***
***د هنر او دين په اړه*** ............................................... ***46***
***مور تهول په يوه ببړی کې يو*** ..................................... ***50***
***خدای (جل جلاله) پېژندونکی څوک دی؟*** ............................ ***52***
***له تياري نه رڼا ته وتل*** ............................................. ***55***
***لړليک*** ........................................ *Error! Bookmark not defined.*